[Date]

# د حجاب لیدلوری!

Ketabton.com

لیکوال: محمد بن عبدالرحمن العریفی

ژباړن: اجمل هیوادمل

ajmal hewadmal

ketabton.com - The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library



# Contents

د ځپو ماتول: ... 5
اختلافي مسئله: ... 7
او اما زمورږ کیسه: ... 8
په روغتون کې: ... 8
د حجاب لرونکي ښځې د ټیکري (پوړني) ځانګړني: ... 31
د ډوډۍ خوړلو تالار: ... 34
د شافعي مذهب د امامانو اقوال: ... 46
د بحث پایله (نتیجه): ... 47
د بې حجابۍ د فتنې پیل: ... 57
خورېدونکی اور: ... 58
طریقې او شېوې: ... 59

ketabton.com - The Digital Library



په «جزيرة کنج» (د خزانې ټاپو) کې، ســـارا له خپلو همزولو نجونو ســـره ډېر توپير نه درلود؛ يوه ښايسته نجلۍ، په مناسب قد او قامت، ځلاندې څېرې او له ماشومتوبه په خپلو همزولو کې اســتثنايي ښـکارېده. مور يې غوښـتل چې هغه له هر پلوه ممتازه او مخکښـه وي. دې انجلۍ د مور په زړه کې لوړ مقام لرلو او تل به د هغې په اړه له احتمالي پېښنو

څخه په وېره کې وه.

په جزيرة کنج کې حالاتو له نورو اسلامي هېوادونو سره ډېر توپير نه درلود؛ مثلاً کله به چې په سـړک روان وې، جوماتونه به دې په پرتمين ډول ليدل، مسـلمانانو يو له بل سـره په ورين تندي چلند کاوه او د ســــړکونو او بازارونو فضــــا د ديني او ايماني طراوت او ښکلا څخه ډکه وه.

د مومنو سړيو سينې له غيرت او مېړانې ډکې وې، هيڅ سړي دا جرئت نه شواى کولاى چې د مسـلماني ښـځې عزت ته په بده سـترګه وګوري. په کوڅو، موټرو او عامه بسـونو کې د هغوى ښــځو هم خپل ځانونه په حيا او حجاب ښــکلي کړي وو او په همدې ښــکلې طريقه روزل شـــوې وې. ډېرى ښـــځې په شـــرعي حجاب ولاړې وې او ځانونه يې د نامحرمو له نظرونو ژغورل.

په دې ټاپو کې يو مشـــهور عالم و چې ټولو خلکو پېژانده. واکمنو، اميرانو او مشـــرانو ورسره مينه لرله او د خلکو په منځ کې يې داسې منل شوى شخصيت و چې ټولو به يې په رايې او اجتهاد عمل کاوه؛ هغه يو متقي او لوى عالم و. په جزيرة کنج کې چې کله هم تلويزيون روښانه کړې، داسې کومه ښځينه سندرغاړې به دې نه ليدله چې د «اى شپې، اى سترګې» او داسې نورې سندرې ووايي؛ په ويډيو کليپونو کې به دې داسې نڅاګره نه ليدله چې ويښـــتان يې رنګ کړي او تاو کړي وي، يا يې وريځې جوړې کړې وي او شـــونډې يـې پـه مـخـتـلـفـو رنـګـونـو (ســـرخـې) لـړلـې وي. په جزيرة کنج کې به په تلويزيوني پروګرامونو کې ښـــځينه وياند نه وه؛ په دې ټاپو کې ژوند ښـــکلى او ارامه و او خلکو په ديني مســـايلو کې يو له بل ســـره اختلاف نه درلود. هرکله به چې عالم او مفتي فتوا ورکړه، خلکو به په پوره خوښـۍ منله او ترې راضـي به

ketabton.com - The Digital Library



وو. کله به چې د جمعې امام خطبې او وينا ته ودرېد، خلکو به يې نصـــيحتونه په ځان او زړه منل. هيڅ بهرنۍ فتنه چې د هغوی صداقت او صميميت له منځه يوسي، هلته لاره نه وه موندلې؛ پرته له هغو خاموشـو غړونو چې د داســې کســانو له ژبو وتل چې د بل ډول ژونــد خونــد يې څکلی و او د دښـــمن پــه فکر او ايــډيــاوو پــالــل شـــوي وو. هو! ځيني داســـې رســـنۍ چې د فســـاد تخم يې اوبه کاوه، لکه مبتذلې مجلې او فحشـــې سـپوږمکيزې شـبکې (ماهواره) شـتون درلود، خو اغېز يې خورا کم او حتی ويلای شـو چې ډېر سـطحي و. کلونه تېر شـول او د اړيکو وسـيلې پراخې شـوې، د ژونديو خپرونو خپرېدل هم په جزيرة کنج کې اضـافه شـول او دې رسنيو د پرديو کلتورونه چې هيڅ ډول ديــنـــي او مــېــړنـــی مــهـــار يــې نـــه درلـــود، دې پــاکـــو خـــلـــکـــو تـــه راولـــېـږل. د جزيرة کنج پاک فطرتو اوسېدونکو داسې ملتونه ليدل چې لکه د څارويو په څېر، بلکې تر هغو يې هم بدتر ژوند کولو. هدف يې يوازې خوړل، څښل او خوب و؛ نه د لمانځه او روژې خبره وه، نـــه د ســـترګو د ســــــاتنې او نـــه هم د حيـــا او غيرت نښـــــه. د جزيرة کنج پاکلمنو ښـځو د نورو ملتونو ښـځې ليدلې چې يوازې د مخ په ښـکاره کولو يې بســــنه نه کوله، بلکې خپلې پېښــــې او پنډۍ يې هم لوڅولې او حتی په دې کې يې هيڅ شرم نه درلود چې د بدن هره برخه يې بربنډه وي. د دې ټاپو جليل القدر عالم به د هغوی په منځ کې نارې وهلې: «له خدايه ووېرېږئ او د داســـې فاحشـــو ښـــځو له پيروۍ ډډه وکـــړئ، پـــه خـــپـــل ديـــن او ديـــانـــت مـــنـــګـــولـــې ټـــيـــنـــګـــې کـــړئ.» هغه خپله ډېره پاملرنه ښـځو ته اړولې وه او داســې به يې ويل: «مسـلماني خورې! خپل حجاب او پرده مه څيرې کوه، ته يوه قيمتي ګوهر (ملغلره) يې، هر څوک د دې لياقت نه لري چې تاته وګوري. ته زموږ ملکه او مېرمن يې، ته زموږ مور، خور، لور او هر څه يې.»

هغه ربـاني عـالم بـه د هغوی لمن نيولـه ترڅو يې د هلاکت لـه کندې وژغوري. نورو علماوو هم په دې مســـوولیت کې هڅې کولې، لکه: د راډيويي او تلويزيوني پروګرامونو ترسره کول، د جمعې خطبې، د کتابونو او کيسټونو وېشل او داسې نور...

ketabton.com - The Digital Library



دوی وېرېدل چې کښېتی غرق نه شي؛ خلکو هم د دوی خبرې منلې او مینه یې ورسره لرله. کلونه په همدې ډول تېر شول او دا زړه سواندي علماء یو په بل پسې له فاني نړۍ سترګې پټولې، خو نور علماء به د هغوی پر ځای راتلل او دغې مبارکې لارې ته یې دوام ورکاوه او کښېتی یې له ډوبېدو او ویجاړېدو ساتله.
بل پلو دښمنانو نارې وهلې: «ای خلکو! موږ ته پام وکړئ، موږ په خوښۍ او سرور کې ژوند کوو، دلته هلک او نجلۍ یو له بل سره اړیکه لري، سړی د ښځې له بدن څخه خوند اخلي.»

«هر ځای کې ښځو ته وګورئ؛ هغوی د سیند په غاړو کې له ښکلا او هوا څخه خوند اخلي. ښځې په الوتکو کې وګورئ چې له ورکړل شوې ازادۍ ګټه پورته کوي او د مسافرو په خدمت بوختې دي. ښځې په هوټلونو کې وګورئ چې څنګه خپل اندامونه ښکاره کوي او په کار او هڅو بوختې دي.»
دا منفي غږونه به د جزیرة کنج د ښځو غوږونو ته رسېدل، خو هغوی دې اعلانونو ته هیڅ پام نه کاوه؛ ځکه د دې پروګرامونو مبلغان یې کم عقل او ناپوهه خلک ګڼل.
د دې ټاپو پاک فطرته ښځې له ماشومتوبه په دې اساس روزل شوې وې چې خپله ښکلا او سینګار د نامحرمو سړیو په وړاندې ښکاره نه کړي؛ حتی که په ناڅاپي ډول به یې د ګوتې سر هم د پردي سړي مخې ته ښکاره شو، په اضطراب به اخته کېدې؛ نو څنګه به داسې ښځو خپل مخونه ښکاره کړي وای او خپلې چادرۍ او اسلامي حجاب به یې لرې اچولی وای؟! هیڅکله نه!

## د څپو ماتول:

دښمن پوه شو چې کومې لارې یې د ټولنې د فساد او بې‌حجابۍ لپاره غوره کړې وې، پایله نه ورکوي او ویې موندله چې له دې حرکت سره مخامخ مقابله ګټه نه لري. نو ځکه یې د ارامو څپو د ماتولو هڅه وکړه. یعنې، یو ګېډۍ لرګي یوځای نه شي ماتېدلی؛ خو که هغوی له یو بل جلا کړو، یو یو یې ماتولی شو.
هغوی په پیل کې خپله پاملرنه د حجاب لرونکو ښځو د حجاب او اوږدو او پراخو

ketabton.com - The Digital Library



ټیکرویو سټایل او ډیزاین ته واړوله؛ هغه چادرۍ چې کله به ښځه پر لاره روانه وه، زینت او سینګار یې بیخي نه ښکارېده. نو په تأویل او توجیه یې پیل وکړ. په پیل کې یې وویل: «موږ دا نه غواړو دا هدف نه لرو چې تاسو خپل ټیکري له سره لرې کړئ؛ بلکې زموږ هدف دا دی چې د خپلو حجابونو او ټیکرویو ډیزاین نوی کړئ.» د جامو ډیزاینرانو د بیلابیلو ډولونو حجابونو په ګنډلو پیل وکړ چې تر ټولو ښکلې یې د ډیزاینرانو په کلک کار پیل وکړ چې تر پخوانیو چادریو تنګې وې، خو نوم یې «چادري» وه. د دې په اغوستلو سره د ښځې جذابیت نور هم زیاتېده؛ د دې پر ځای چې چادري د ښځې د ښکلا پټولو لپاره وي، په خپله په زینت او سینګار بدله شوه. په پایله کې، دښمن تر یو بریده د خپل کار له پایلې خوښ شو او احساس یې وکړ چې ځپې د ماتېدو په حال کې دي.
له همدې امله، هغوی د لا نورو نویو چادریو په ګنډلو لاس پورې کړ؛ داسې چادرۍ چې یوازې اوږې یې پټولې او نور زینت چې په مټو او شاوخوا پورې تړل کېدل.
ورو ورو داسې تنګې او چسپې چادرۍ وګنډل شوې چې د ښځې د بدن ټول غړي پکې ښکاره کیدل، حتی د حجاب په شتون کې به ښځې ته تر هغه ډېره پاملرنه کېدله ډیري سترګې پسې اوښتلي چې بیخي یې حجاب اغوستلی نه وای.
په دې وخت کې په ټولنه کې اضطراب او پښېماني خپره شوه، د نجات کښتۍ د ډوبېدو په حال کې شوه. د ټولنې مصلحانو سکوت ونه کړ؛ بلکې علماوو د دې ډول جامو په اړه سختې فتواوې صادرې کړې او منبرونه یې په غوځو ویناګانو ولړزول. دعوتګرو په هر ځای کې نصیحت او وعظ پیل کړ او خلک یې د داسې چادرۍ له اغوستلو څخه ووېرول او د دې جریان له بدو پایلو څخه اندېښمن وو؛ ځکه د داسې جامو په اغوستلو سره د ښځې زینت ښکاره کېده، هغه زینت چې خداوند یې د پټولو امر کړی دی.
د داسې تنګو او نازکو جامو حرمت چې د ښځې غړي یې ښکاره کول، د هر مؤمن او هوښیار کس لپاره روښانه او څرګند و. په پایله کې د داسې جامو اغوستل کم شول، حتی تر دې چې خورا لږ شول. مؤمنو او حجاب لرونکو ښځو د پخوا په څېر اوږدو او مناسبو جامو ته مخه کړه، که څه هم ځینو غافلو ښځو د داسې حجابونو اغوستل پرې نه ښودل.
بیا د دښمنانو د علماوو او مصلحانو دې دریځ ته پام شو او پوه شول چې هغوی د حجاب

ketabton.com - The Digital Library



د له منځه وړلو او د ښځو او سړیو د ګډون (اختلاط) په لاره کې ځانونه ستړي کړل او په زرګونو ښځې د دوی له فکرونو او نظریاتو اغېزمنې شوې دي؛ خو ناڅاپه یو فصیح دعوتګر راپورته شو او داسې صریح آیاتونه او غوڅ احادیث یې بیان کړل چې مؤمنو ښځو ټولو توبه وکړه او له خپل تېر وخت څخه پښېمانې شوې. کله چې مفسدینو ولیدل چې ښځې یوځای توبه کوونکې شوې، نو ګوتې یې په غاښونو کې بندې پاتې شوې او په خپلو کې یې داسې زمزمه کوله: «افسوس چې موږ تاوان وکړ.» هو، هغوی یوه شول چې دین د زړونو په تل کې ځای لري. مسلمانه ښځه که څه هم یوه ورځ به په دیني چارو کې غفلت وکړي او په حجاب کې به سستي وکړي، خو په چټکۍ سره د حجاب او عفت لوري ته راستنیږي؛ ځکه د پاکلمنې ښځې باطن له سوچه خزانې څخه دی او په سرو زرو د لاس په تېرولو سره، ترې دوړه پاکیږي او ځلا یې بېرته راګرځي. نو ځکه، له اوږدو فکرونو وروسته لویه غمیزه رامنځته شوه.

## اختلافي مسئله:

هواپرستان (د نفس منونکي) وزګار نه کښېناستل، بلکې د تاریخ پاڼې یې واړولې او د داسې مسایلو په لټه کې شول چې په نورو اسلامي هېوادونو کې حجاب څنګه له منځه تللی دی. هغوی وموندله چې کار د مخ له ښکاره کولو څخه پیل شوی دی؛ نو کله چې دا تبلیغات خپاره شول او د مخ ښکاره کول د مسلمانانو ترمنځ یو عادي امر وګرځېد، نو د ښځې مخ په ډول ډول رنګونو (سینګار) ننداري ته وړاندې شو. حجاب په مختلفو رنګونو کې راڅرګند شو او مخ په تر ټولو ښکلي حالت کې ښکاره کړای شو. هغه ټوکران چې د حجاب لپاره وو، په ډول ډول ګندلو، زري دوزۍ او ګل دوزۍ سمبال شولو او د مخ ښکلا یې نور هم زیاته کړه. له همدې امله یې لومړی مخ ښکاره کړ او ورو ورو تندی او ورپسې د تندي د مخې ویښتان هم ښکاره شول. په دې ترتیب یې په «جزیرة کنج» کې د خپلو پلانونو پلي کول پیل کړل.
د جزیرة کنج ښځو خپل مخونه د نامحرمو له نظره پټول، خو د سټلایټ شبکو، نورو ارتباطي وسایلو او ځینو مجلو او ورځپاڼو په منځ کې به کله نا کله داسې مطلب د هغوی

ketabton.com - The Digital Library



تر سترګو کېده: «په حقيقت کې د ښځې د مخ پټول واجب نه دي او د ښځې لپاره جايز دي چې خپل مخ ښکاره کړي. ځينو علماوو هم د مخ د ښکاره کولو د جواز فتوا ورکړې ده او دا يوه اختلافي مسئله ده.» بيا دا لړۍ همداسې روانه وه او ځينو کسانو داسې فتواګانې ورکړې چې ښځه کولی شي بازارونو او سړکونو ته پرته له مخ پټولو ووځي او هر څوک واک لري چې د هغې مخ، سترګو، د غومبورو ښکلا او د شونډو نريوالي ته وګوري او دا ټول جايز دي او د خدای په دې حکم کې: ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾ [النور: ٣١] (او خپل زينت دې نه ښکاره کوي) نه راځي.

## او اما زموږ کيسه:

سارا له هغو نجونو نه وه چې د خپل حجاب څخه غافله نه وه، بلکې په خپل محل کې د يوې ملکې په څېر په وياړ او غرور سره اوسېدله او په خپل حجاب يې وياړ کاوه. ټول د هغې د لوړ شخصيت او استقامت څخه په حيرت کې وو. هره سهار به يې د معمول سره سم په سړکونو بيروبار ليدل او په دې ګڼه ګونه کې به يې خپلې مسلمانې خويندې هم ليدلې چې د خپل مخ له ښکلا څخه يې د حجاب پرده پورته کړې وه. سارا به تل د ښوونځي په لاره کې دا صحنې ليدلې، خو له بلې خوا ډېرې ښځينه محصلينې وې چې مخ او ټول بدن يې پټاوه؛ ځينو خپل مخونه ښکاره کول او ځينو يوازې داسې چادرياني اغوستې وې چې لکه (کوټ) داسې وې. هغې به ځينې اوباش هلکان ليدل چې د دې نجونو شاوخوا ګرځېدل ترڅو ځينې يې په خپله دام کې ښکار کړي! سارا د خپلې لارې په اوږدو کې دا هر څه ليدل او دا صحنې يې له سترګو تېرېدې، په داسې حال کې چې هغې کامل حجاب درلود او هيڅ چا دا جرئت نه شوای کولای چې هغې ته بده خبره وکړي يا خپل د تليفون شميره ورکړي؛ هغې داسې هيبت او وقار درلود چې ګواکې ملايکې يې ساتنه او پاسداري کوي.

## په روغتون کې:

د سارا مور د اميندوارۍ نهمه مياشت تېروله. د کور ټول غړي د هغه کوچني مسافر په تمه وو چې نړۍ ته راځي او د دې ماشوم ليدو ته لېواله وو. کله چې د سارا مور د

ketabton.com - The Digital Library



زیږون درد احساس کړ، روغتون ته ولیږدول شوه او یو ښکلی هلک یې وزیږاوه. د هغه ورځې مازدیگر سارا له خپل پلار سره په روغتون کې د مور پوښتنې ته لاړه. ډیر خلک روغتون ته د خپلو ناروغانو پوښـــتنې ته راغلي وو او خپله روغتیا یې په ټول وجود احســاســوله او پوهېدل چې څومره لوی نعمت لري چې د روغتون خلک ترې بې برخې دي. ټولې خونې له ناروغانو ډکې وې، یو د ټکر له امله، بل د زړه د ناروغۍ او بله ښځه د نســـــايي نـاروغۍ لـه املـه راغلې وه؛ لنـډه دا چې بیلابیـل نـاروغـان موجود وو. ســارا د خپلې مور خونې ته لاړه، هلته څلور نورې میندې هم وې چې تازه یې ماشــومان زیږولي وو. د ســارا ســترگې د لیدونکو په منځ کې په یوې باوقارې نجلۍ ولگېدې چې د ذکاوت او ادب نښې پکې ښکاره وې. هغې نجلۍ یوه پراخه چادري (عبا)اغوستې وه چې هیڅ ډول سینگار پرې نه لیدل کېده، خو څرنگه چې مخ یې ښکاره او د پوره سپوږمۍ په څېر روښــانه او ښــکلی و، نو ټولو خلکو، که لیدونکي وو، که نرســان او که ډاکټران... هغه لیدله.

سارا له دې صحنې حیرانه شوه چې دا نجلۍ څنگه خپل زینت ښکاره کوي، په داسې حال کې چې خداوند په ښکاره فرمایلي دي: ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾ «او خپل زینت (لکه سر، مخ، ســینه، متې، پښــې، غاړه، پاخېل، هار، او بازوبند) دې نه ښــکاره کوي.» ســارا چې کوم جرات درلود، په پوره ادب او درناوي هغې نجلۍ ته ورغله، سـلام یې وکړ او پوهه شـوه چې د دې نجلۍ نوم «اریج» دی او ورته معلومه شــوه چې د اریج خور مور شــوې او د هغې لیدو تـه راغلې ده. نو هغې تـه یې د خیر دعـا وکړه او لـه اریج څخـه یې پـه اجازه اخیستلو سره خپله خبره داسې پیل کړه: «ما له تاسو سره یوه خصوصـي خبره لرله، ایا غــواړئ چــې پــه څــنــگ خــونــې کــې ســــــره یــو ارام بــحــث وکــړو؟» دواړه نجونې په ارامۍ هغې خونې ته لاړې او ترمنځ یې لنډې خبرې وشوې. د دې خبرو په ترڅ کې ســارا پوه شـوه چې اریج د ښځو د آزادۍ په اړه لیکل شـوي کتابونه او مجلې ډېرې لولي؛ هغه کتابونه چې د ښــځې د آزادۍ په نوم هغې ته د بې‌حجابۍ او بربنډۍ بلنه ورکوي او ښــځه د یوې داســې مریۍ په څېر ښــیي چې باید آزاده شــي. د ســارا او اریج ترمنځ یو اوږد بحث پیل شو.

ketabton.com - The Digital Library



د سارا او اريج خبرې اترې:

سارا داسې پيل وکړ: «اغلې! ايا تاسو پوهيږئ چې الله متعال ښځه او سړى له دوو جنسونو څخه د انسان له نوعې پيدا کړي او فرمايلي يې دي: ﴿وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ٤٥﴾ [النجم: ۴۵]. "او دا چې هغهﷻ جوړې، نر او ښځه پيدا کړي دي."» «زما خورې! ښځه او خاوند يو په بل پورې تړلي دي، او هيڅ يو له بل څخه بې‌نيازه نه دي او دواړه د ژوند د څرخ په ګرځولو کې شريک دي.» «هو، ښځه او سړى د نړۍ په ودانولو کې يو له بل سره شريک دي، د دين په عمومي مسايلو کې د ښځې او سړي ترمنځ توپير نشته. د مسووليت په ترسره کولو کې ټول شريک او برابر دي. رسول الله ﷺ لکه څنګه چې سړي مخاطب کړي، ښځې يې هم مخاطبې کړې دي، له ښځو او سړيو څخه يې اسلام ته د داخلېدو بيعت اخيستى او د لمانځه په وخت کې يې د ښځو او سړيو امامت کړى دى، ښځو او سړيو ته يې فتوا ورکړې ده، او همدارنګه ښځو او سړيو ورته مشورې ورکړې او هغه مبارک ﷺ منلې دي.»

په دې وخت کې اريج په لوړ غږ وويل: «رسول الله ﷺ د ښځو مشوره منله، په داسې حال کې چې ابوبکر او عمر (رضى الله عنهما) موجود وو؟» سارا ځواب ورکړ: «ام سلمه (رضى الله عنها) ته وګوره چې په مشورې يې يوه لويه ستونزه حل شوه، هغه چاره چې نړدې و يو لښکر له منځه يوسي. او دا ټول له اوسني عصر څخه په ډېر پخواني وخت کې وو، چې نن سبا ځينې کسان په خپل ګمان د ښځو له حقونو دفاع کوي(نوم يې حقوق بشر ده خو هدف يې له ښځو د اخيستل دي) .» سارا وويل: «کله چې رسول الله ﷺ د عمرې په نيت مکې مکرمې ته روان شو، دولس سوه (۱۲۰۰) ستر صحابه ورسره د عمرې د ادا کولو لپاره ملګري وو. دا کيسه د مکې له فتحې وړاندې وه. د مکې خلک چې مشرکان وو، هغوى مکې ته له ننوتلو او عمرې کولو څخه منعه کړل؛ چا ته چې به يې زړه شو اجازه يې ورکوله او څوک يې چې نه غوښتل، مخه يې نيوله.»

ketabton.com - The Digital Library



«هغه مبارک ﷺ له خپلو ملګرو ســره یوازې د عمرې لپاره راغلی و او د جنګ نیت یې نه درلود. قریشـو مسلمانان له مکې منعه کړل. په پیل کې رسول الله ﷺ وغوښتل چې له زور څخه کار واخلي، خو بیا یې له خپلې پریکړې تېر شـو او په دې راضـي شـو چې ترمنځ یې یو سوله لیک ولیکل شي.»

«قریشـو د سـولې د مادو په اړه د خبرو لپاره اسـتازي راولیږل. سـهیل بن عمرو راغی ترڅو د سـولې په موادو بحث وکړي. رسـول الله ﷺ کاتب راوغوښـت او ورته یې وویل: ولیکه: "بسـم الله الرحمن الرحیم". سـهیل اعتراض وکړ او ویې ویل: "رحمن" څوک دی چې نوم یې اخلې؟ موږ هغه نه پېژنو، ولیکه "بسـمک اللهم". بیا رسـول الله ﷺ وویل: دا هـغـه لـوظـنـامـه ده چـې "مـحـمـد رســـول الله ﷺ" پـرې ســـولـه کـړې ده.» «بیا سـهیل له اعتراض سره وویل: که موږ ته د پیامبر په توګه منلي وای، نو له بیت الله مو نـه منع کولې او درســـره جنګېدو بـه نـه؛ بلکې داســـې ولیکـه: محمد بن عبدالله.» «رســول الله ﷺ ورته وویل: ولیکه: په دې شـــرط چې د مکې خلک موږ پرېږدي چې د خدای د کور طواف وکړو. ســهیل وویل: د دې لپاره چې عرب موږ ته پېغور رانه کړي چې موږ تر فشـــار لاندې راغلي یو، نو له راتلونکي کال څخه تاســـو ته د عمرې اجازه درکول کیږي. رســـول الله ﷺ د تړون ټولې مادې ومنلې او په لیکلې بڼه یې قبولې کړې. ســهیل په دې هم راضــي نه شــو او ویې غوښــتل چې پر مســلمانانو کړی نوره هم تنګه کړي.»

نو دا شــرط یې هم اضــافه کړ: که کوم مســلمان له مکې څخه د مدینې په نیت ووت، باید بېرته راستانه کړای شي؛ خو که کوم کس له مدینې څخه د مکې په لور لاړ او له اسلامه مرتد شو، په مکه کې یې هرکلی کیږي. مسلمانانو په اعتراض سره وویل: یو څوک چې مسلمان شوی او موږ ته راغلی، هغه بېرته کافرانو ته وسپارو؟! سبحان الله! څنګه بېرته مشرکانو ته ستنیږي؟ خو رسول الله ﷺ دا ماده هم ومنله، مګر ویې ویل: هغه څوک چې له موږ څخه هغوی ته ورشـــي، الله هغه رټلی او لرې کړی دی. بیا چوپ شــو او په فکر کې ډوب شو.»

ketabton.com - The Digital Library



«رسول الله ﷺ له قريشو سره سوله وکړه ترڅو مسلمانان سږکال مديني منورې ته ستانه شــــي او راتــلــونــکــی کــال خــپــلــه قضـــــا عــمــره وکــړي.» «مسلمانان د احرام په جامو کې راغلي وو ترڅو عمره وکړي، خو کله چې قريشو هغوی منعه کړل، دا ورته يو ســخت روحي ګوزار و. کله چې رســول الله ﷺ د تړون له ليکلو خلاص شـــو، خپلو ملګرو ته يې مخ کړ او امر يې ورته وکړ چې خپلې قربانۍ حلالې کړئ. هغوی له ځان ســره ګډې او اوښــان د قربانۍ لپاره راوســتي وو ترڅو له عمرې وروســـته يې حلال کړي؛ او همدارنګه يې خپلو ملګرو ته امر وکړ چې خپل ســـرونه وخروي.»

مسلمانان حيران شول؛ ځکه دا ټول کارونه د عمرې له ادا کولو وروسته ترسره کيږي، د دې بزرګوارانو زړونه لا هم د خدای د کور زيارت ته ليواله وو، له همدې امله يې د نبوي امر په پلي کولو کې ځنډ وکړ، په دې هيله چې مکې مکرمې ته د دوی د ننوتلو او د عمرې د مناسکو د ترسره کولو غوښتنې ته پام وشي، خو ونه منل شوه. رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته کتل او منتظر و چې حکم يې پلی شي؛ خو څوک راجګ نه شول. بيا يې خپل امر تکرار کړ، خو بيا هم چا سر پرې ونه ګراوه. رسـول الله ﷺ په غوسـه شـو او خپلې پتمنې مېرمنې، بي بي ام ســلمه (رضـــی الله عنها) ته ورغی چې له کاروان ســره ملګرې وه، او هغې ته يې کيسـه وکړه چې له خپلو پيروانو سره له داسـې ستونزې سـره مخ شوی دی!

ام المؤمنين ام سلمه (رضـی الله عنها) وفرمايل: «ای د الله رسوله! ايا ته غواړې چې ستا له امره اطاعت وکړي؟ هغوی ته ورشـــه او له هيچا ســـره ان يوه کلمه خبره هم مه کوه! خپله قرباني ذبح کړه او امر وکړه چې ويښــتان دې وخرايي.» رســول الله ﷺ کټ مټ د خپلې مېرمنې مشـوره عملي کړه. د دې پېښـې په ليدو سـره، صـحابه کرام يو په بل پسـې راجــګ شـــول، خــپــلــې قــربــانــۍ يــې ذبــح کــړې او ســـــرونــه يــې وخــريــيــل. ګوره اريج! يوې ښځې څنګه پر ځان باور درلود او په دې عالي تدبير سره يې ځان سپک ونه ګاڼه، بلکې لاره يې وښودله، او هيڅ يو صحابي هم هغه سپکه ونه ګڼله؛ بلکې د هغې پـــه مشـــــوره يـــې عـــمـــل وکـــړ او پـــلـــي يـــې کـــړه.

ketabton.com - The Digital Library



په دې شـېبه کې اریج وویل: «په خدای قسـم چې دا خبره ډېره ښـکلې او په زړه پورې ده.»

## برابري:

خپلې کیسې ته راګرځو، اریج! ما درته ویل چې خدای تعالی د ښځې او سړي ترمنځ په هر څه کې مساوات رعایت کړی دی، پرته له هغو مواردو چې د ښځې او سړي طبعیت او فطرت یو له بل سره توپیر لري. الله متعال د سړیو په اړه فرمایي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ﴾ [الفتح: ۱۰]. «بېشـکه هغه کسان چې له تا سره بیعت کوي...» او د ښځو په اړه داسې وايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ﴾ [الممتحنة: ۱۲]. «ای نبی! کله چې مـؤمـنـې ښـځې تـاتـه راشـي چې لـه تـا سـره بـیـعـت وکـړي...» او په کور کې د مسوولیت په ترسره کولو کې هم مساوات رعایت شوی، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایي: «سړی د خپلې کورنۍ مسوول دی، او ښځه د خپل مېړه د کور او اولادونو مسووله ده، تاسو ټول مسوولان یاست او له تاسو ټولو څخه به ستاسو د تر لاس لانـدې خـلـکـو پـه اړه پـوښـتـنـه وشـي.» همدارنګه یې د ښـځې او سـړي ترمنځ د شـرعي احکامو او عباداتو په پلي کولو کې هم برابري راوسـتې ده چې دواړو ته یې د ترسـره کولو امر شـوی. د بېلګې په توګه: پنځه وخته لمونځ په ښځه او سړي دواړو فرض دی، د مبارکې روژې نیول په دواړو جنسونو لازم دي، زکات او د بیت الله الحرام حج هم په همدې ډول. حتی خدای تعالی د ښځو لپاره په ډېرو دغو احکامو کې تخفیف (اسـانتیا) ایښـې ده، مثلاً د حیض او نفاس په ورځو کې یـې لـمـونـځ او روژه د ښـځـې لـه غـاړې لـرې کـړي ده. همدارنګه دواړه جنسونه د ټولنې په ودانولو کې دنده لري چې په خپلو هڅو سره ټولنه د پرمختګ لوري ته بوزي. لکه څنګه چې خدای فرمایي: ﴿فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ﴾ [الملك: ۱۵]. «د ځمکې په اوږو (خواو) کې وګرځئ او د خدای له رزقه خوراک وکړئ.» پـه دې ایـت کې د خـدای خطـاب ښـځې او سـړي دواړو تـه دی. لکه څنګه چې خدای فرمایي: ﴿إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ...﴾ [الأحزاب: ۳۵]. «مسـلمان نارینه او مسـلمانې ښـځې، مؤمن نارینه او مؤمنې ښـځې،

ketabton.com - The Digital Library



فرمانبرداره نارینه او فرمانبرداره ښځې، ربښتوني نارینه او ربښتونې ښځې، صابر نارینه او صابرې ښځې، عاجزي کونکي نارینه او عاجزي کونکي ښځې، صدقه ورکوونکي نارینه او صدقه ورکوونکې ښځې، روژه لرونکي نارینه او روژه لرونکې ښځې، د خپل عفت ساتونکي نارینه او د خپل عفت ساتونکې ښځې، او هغه نارینه چې د خدای ډېر ذکر کوي او هغه ښځې چې د خدای ډېر ذکر کوي؛ الله د دوی ټولو لپاره ښښنه او ستر اجر چمتو کړی دی.»

او همدارنګه دواړو ته امر شوی چې د خدای او د هغه د رسول اطاعت وکړي:
وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ ۗ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا[سُوْرَةُ الأحزَاب : 36]
ژباړه:هیڅ یو مؤمن او هیڅ یوه مومنه دا حق نه لري چي کله الله او د هغه رسول(ص) د کومي معاملې فېصله وکړي او بیا (د الله او د هغه د رسول په خلاف) هغه پخپله د خپلي هغي معاملې د فېصله کولو اختیار ولري. او څوك چي له الله او د هغه له رسول څخه سرغړاوی وکړي، نو هغه په ښکاره ګمراهۍ کښي وغورځیدی.»
پوه شه چې صالحو ښځو د خدای په بندګۍ او په دین عمل کولو کې غوره بېلګې وړاندې کړې دي او د الهي رضایت لپاره یې ډېرې سختۍ ګاللې دي.

## مېړنۍ ښځې:

سارا خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ: اریج! درته د نجونو د قرآن کریم د حفظ د یوې دورې کیسه کوم چې یوې مدیرې راته کړې ده. هغه وایي: کله چې مور د حفظ کلاس پرانیست، ودانۍ د سړک له کچې یو څه لوړه وه او زینې (پوړیو) ته یې اړتیا لرله. د لومړۍ ورځې د نوم لیکنې پر مهال، زه د یوې بوډۍ ښځې په لیدو حیرانه شوم! لور یې هغه په ویلچر کې راوسته، کله چې دروازې ته را ورسېدله، زینې د ویلچر د تګ خنډ شوې. بوډۍ لور او ویلچر ته وکتل او بیا د لور په مرسته له ویلچر کوزه شوه، ودانۍ ته ننوته او خپل نوم یې د حفظ په لیست کې ولیکه. ما له ځینو نجونو واورېدل چې د دې بوډۍ په اړه یې ویل: نږدې ۱۵ کاله وړاندې ورته

ketabton.com - The Digital Library



یوه سخته پېښه شوې وه چې له امله یې فلج شوې او په بستر پرته وه، حتی د بدن غوښې یې ویلې شوې وې او بې د لور له مرستې یې حرکت نه شوای کولای. خو عقل یې روغ و او زړه یې د یو مؤمن انســـان په څېر ژوندی و. هغې فکر وکړ چې په دې حال کې هم اسلام ته خدمت وکړي.

پوهیږې څه یې وکړل؟ په لومړي ګام کې یې خپل کور د اړمنو کورنیو لپاره د مرستو په مرکز بدل کړ. ډېر ژر یې د کور انګړ له مرستو ډک شو. هغه د شتمنو او غریبو ترمنځ د اړیکې پُـل شـــوه؛ ډیر وړ‌ي د دې فلجې ښـــځې پــه واســـطــه مــاړه شـــول! دې مؤمنې ښځې بل کار دا وکړ چې له مرستو سره به یې ګټور کتابونه او کیسټونه هم لیږل او د هغو په موضـــوعاتو کې به یې ســـیالۍ جوړولې ترڅو خلک یې لوســـتلو او اورېدلو ته وهڅول شي.

درېیم: هغه ښځې چې له سمې لارې لرې وې، نه یې پرېښودلې، بلکې اړیکه یې ورسره نیوله او نصیحت یې ورته کاوه.

څلورم: د علماوو او خیریه بنسټونو له لارې یې د بې سرپرسته نجونو او ښځو د ودونو لـپــاره هــڅـــې کــولــې تــرڅــو هــغــوی تــه مــنــاســـــب خــاونــدان پــیــدا کــړي. پنځم: د کورنیو جګړو او ســـتونزو پــه هوارولو کې یې فعــالــه برخــه اخیســـتــه. پـــه خـــدای قســـــم چـــې هـــغـــه یـــوه هـــېښـــــونـــکـــې ښـــــځـــه وه. اریج په پوره پاملرنې سره د سارا خبرو ته غوږ نیولی و او ګټه یې ترې اخیسته. هر څه چې یې اورېدل، په خپل ذهن کې یې تکرارول: د ښـځې او سـړي ترمنځ مسـاوات او... هغه څه چې پخوا یې اورېدلي وو لکه دا چې پر ښځو ظلم شوی، حقونه یې تر پښو لاندې شـوي، بې پناه دي او داسـې نور؛ نو ځکه یې د سـارا د خبرو د تایید لپاره په پرله پسـې ډول ویل: «ډېر ښه، ډېر ښه.»

سارا په دوام کې زیاته کړه: دلته یو مهم ټکی شتون لري: هر کله چې خداوند فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ﴾ «ای خلکو!» یا کله چې په نبوي احادیثو کې داســې مطالب لولو، دا په مطلق ډول ښځې او سړي دواړو ته شاملیږي. خداوند په عظیم الشان قرآن کې په مختلفو ځایونو

ketabton.com - The Digital Library



کې له ۲۰ ځلو څخه زیات ښځې او سړي په داسې مواردو مخاطب کړي دي. د بېلګې په توګه د ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ﴾ څو نمونې یادوم:
۱- ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ﴾ [البقرة: ۲۱]. «ای خلکو! د خپل رب عبادت وکړئ.»
۲- ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا﴾ [البقرة: ۱۶۸]. «ای خلکو! د ځمکې له هغو شیانو خوراک وکړئ چې حلال او پاک وي.»
۳- ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمْ بُرْهَانٌ مِنْ رَبِّكُمْ﴾ [النساء: ۱۷۴]. «ای خلکو! یقیناً ستاسو د رب له لوري تاسو ته دلیل او برهان راغلی دی.»
۴- ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ﴾ [الأعراف: ۱۵۸]. «ای خلکو! زه ستاسو ټولو خوا ته د الله استازی یم.»

۵- ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى﴾ [الحجرات: ۱۳]. «ای خلکو! موږ تاسو له یو نارینه او یوې ښځې پیدا کړي یاست.»

هو، همداسې ده؛ الله ﷻ ښځې او سړي په عمومي ډول په یوه غږ رابللي. له ما سره د مدینې ښار ته، د پیامبر ﷺ ښار ته سفر وکړه او زموږ مور، بي بي ام سلمه (رضی الله عنها) ته وګوره! یوه ورځ په خپل کور کې چې د نبوي جومات پورې نښتی و، وه؛ ویښتان یې ږومنځول چې په دې وخت کې یې واورېدل رسول الله ﷺ غږ کړ: «یا ایها الناس». خپلې وینځې ته یې وویل: لاس ونیسه (ودرېږه)! او چمتو شوه چې جومات ته لاړه شي. وینځې ورته وویل: رسول الله ﷺ سړیو ته غږ کړ، نه ښځو ته. هغې وفرمایل: «زه هم په "ناس" (خلکو) کې شامله یم.»

اریج: ډېره ښه سارا! اجازه راکوې یوه پوښتنه وکړم؟
سارا: یوه شېبه، د مساوات په اړه یو بل لنډ مطلب ذهن ته راغی، غواړم دا هم واورې.
اریج: مهرباني وکړه.

سارا: لکه څنګه چې ښځه او سړی د احکامو او واجباتو په پلي کولو کې برابر دي، د ثواب او پاداش په ترلاسه کولو کې هم مساوي دي. خداوند فرمایي: ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً...﴾ [النحل: ۹۷]. «هر هغه څوک چې نېک

ketabton.com - The Digital Library



عمل وکړي، که نارینه وي که ښـــځینه، په داســـې حال کې چې مؤمن وي، نو موږ به خامخا هغه ته یو پاکیزه ژوند ورکړو او خامخا به دوی ته د دوی د نېکو اعمالو په بدل کې اجر ورکړو.»

او همدارنګه فرمایي: ﴿فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى﴾ [آل عمران: ۱۹۵]. «نو د دوی رب د دوی دعا قبوله کړه (او ویې فرمایل:) چې زه له تاســـو څخه د هیڅ عمل کونکي عمل نه ضـــایع کوم، که هغه نارینه وي که ښـــځینه.» او په بل ځای کې فرمایي: ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّـــالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ...﴾ [النســـاء: ۱۲۴]. «او هر څوک چې نېک کارونه وکړي، که نارینه وي که ښـــځینه، او مؤمن وي، نو دغه کســـان به جنت ته داخلیږي او پر دوی به د خرمې د زړي د نـــري غـــوري (نـــکـــیـــر) هـــومـــره ظـــلـــم هـــم نـــه کـــیـــږي.» او ټول هغه احادیث چې د اعمالو د فضائلو په اړه ذکر شوي، د ټولو مسلمانانو لپاره دي، که ښـــځه وي که ســـړی. د بېلګې په توګه دا حدیث: «هر څوک چې ســـبحان الله وبحمده ووایـــي، پـــه جـــنـــت کـــې ورتـــه د کـــجـــورې یـــوه ونـــه کښـــیـــنـــول کـــیـــږي.» یا دا چې: «هر څوک چې په ورځ کې ۱۲ رکعته سنت مؤکده په پابندۍ سره ادا کړي، په جنت کې ورته یو کور جوړیږي.»

او د جزا او سزا په مسله کې هم ښځه او سړی برابر دي: کله چې له الهي حدودو تېری وکـــړي، پـــرتـــه لـــه کـــوم تـــوپـــیـــر او لـــومـــړیـــتـــوبـــه ســـــزا ورکـــول کـــیـــږي. خداوند د زنا د ســـزا په اړه فرمایي: ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ [النور: ۲]. «زناکارې ښـــځې او زناکار نارینه ته، هر یوه ســـل ســـل دُرې ووهئ.» د غلا د سـزا په اړه فرمایي: ﴿وَالسَّـارِقُ وَالسَّـارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا﴾ [المائدة: ۳۸]. «د غل او غلې (ښـــځینه غلې) لاســـونه پرې کړئ د هغې جزا په بدل کې چې دوی کړې ده.» او د شرک او نفاق په اړه فرمایي: ﴿لِيُعَذِّبَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ وَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾ [الأحزاب: ۷۳]. «ترڅو الله منافق نارینه او منافقې ښـځې، او مشـرک نارینه او مشـرکې ښـځې عذاب کړي، او د مؤمنو نارینه وو او مؤمنو ښځو توبه قبوله کړي.»

ketabton.com - The Digital Library



الله متعال د انســـاني كرامت په اړه دواړه په مســـاوي ډول محترم او ګران کړي دي چې هيڅ يو يې نه دى ســـپک کړى او نه يې له مقام څخه کم کړي دي. ســـبحان الله فرمايي: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾ [الإسراء: ۷۰]. «او يقيناً موږ د آدم اولادې ته عزت ورکړى دى.» دا ايت ښځو او سړيو دواړه ته شامل دي او خداوند د مسلمانانو سپکاوى (که ښځه وي که سړى) حرام کړى او فرمايلي يې دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ﴾ [الحجرات: ۱۱]. «اى هغو کســـانو چې ايمان مو راوړى! هيڅ نارينه دې پر نورو نارينه وو پورې نه خاندي، کېداى شي هغوى تر دوى غوره وي، او نه دې ښځې پر نورو ښځو پورې خاندي، کېداى شي هغوى تر دوى غوره وي.»

تـــر ټـــولـــو غـــوره ســـــــتـاســـــــو هـــغـــه دى چـــې ډېـــر پـــرهـــيـــزګـــار وي: اريج په پوره پاملرنې سره د سارا خبرو ته غوږ وه، سارا په ډېره جذبه او جوش سره خبرې کولې. يوې شيبې لپاره سارا چوپه شوه او په سختۍ يې د خپلو اوښکو مخه ونيوله؛ زړه يې د الله تعالى له محبت څخه ډک و. دا څنګه ممکنه ده چې ځينې خلک پر هغه دين تورونه لګوي چې الله تعالى مشـــروع کړى او تر کماله يې رســـولى دى؟ ايا دا ممکنه ده چـــې الله تـــعـــالـــى پـــر ښـــــځـــې ظـــلـــم وکـــړي يـــا يـــې حـــق ور نـــه کـــړي؟ بيا يې په پوره هوډ او وياړ ســـره وويل: د ښـــځې او ســـړي ترمنځ د غوره والي معيار يوازې او يوازې يو شـــــى دى او هغه «تقوا» ده. الله تعالى فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى... إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾ [الحجرات: ۱۳]. «اى خلکو! موږ تاسو له يو نارينه او يوې ښځې پيدا کړي ياست او تاسو مو په قومونو او قبايلو وېشلي ياست ترڅو يو بل وپېژنئ؛ بېشکه د الله په وړاندې ستاسو تر ټولو عزتمن هغه دى چې ســـــــتـاســـــــو کـــــې ډېـــــر پـــــرهـــــيـــــزګـــــار وي.» هو! په تاسو کې ډېر عزتمن هغه دى چې ډېر متقي وي؛ نه هغه چې ډېر غښتلى بدن لري يا ډېر شتمن وي، نه په مېراته ده او نه په چوکۍ او مقام، بلکې اساس يوازې تقوا ده.

اريج په داسې غږ چې د اغېز نښې پکې وې، وويل: «کاشکې هغه ډېرې ښځې چې د دې ورانکارو تبليغاتو ښکار شوې دي او د ښځو د حقوقو ناري وهي، د دې خبرو په مفهوم

ketabton.com - The Digital Library



پوهېدای. ترڅو پوه شوې وای چې الله جل جلاله له خپلو بندګانو سره هيڅ کينه او ضد نه لري؛ بلکې ښځې د الله تعالی بندګانې دي، هره يوه يې کولی شي د جنت لوړو مقامونو ته ورسـيږي او حتـی د تـقـوا لـه لارې لـه سـړيـو هـم مـخـکـې شـي.» سارا ورته وويل: «رښتيا وايې! سربېره پر دې چې تا وويل، حتی په واده کولو سره هم د ښځې او سړي کرامت خوندي پاتې کيږي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ [البقرة: ٢٢٨]. "او د ښـځو لپاره (پر مېړونو) د هغوی د حقونو پـه څېـر حـقـونـه دي چـې پـه ښـه طـريـقـه (مـعـروف) بـايـد ادا شـي."» حضـرت حکيم بن معاويه (رض) له رسـول الله ﷺ څخه د ښـځو د حقونو په اړه وپوښـتل چې: «ای د الله رسـوله! زموږ پر غاړه د ښـځې حق څه دی؟» هغه مبارک ﷺ وفرمايل: «کله چې خواړه خورئ، هغوی ته يې هم ورکړئ او کله چې جامې اغوندئ، هغوی ته يې هم واغوندئ.» او ويې فرمايل چې ښـځې پر تاسـو حقونه لري او تاسـو پر هغوی حقونه لرئ.

همدارنګه اولادونو ته يې د مور او پلار د حقونو د ادا کولو امر کړی، حتی د مور حق يې تر پلار زيات بللی دی. قرآن فرمايي: ﴿وَوَصَّـيْنَا الْإِنْسَـانَ بِوالِدَيْهِ إِحْسَـاناً حَمَلَتْهُ أُمُّهُ﴾ [الأحقاف: ١٥]. «موږ انسان ته د خپل مور او پلار په اړه د نېکی حکم کړی، ځکه مور يې هغه په سختۍ سره په خېټه کې ګرځولی دی.» دلته يې لومړی له مور څخه پيل وکړ او د مـور حـق يـې تـر پـلار مـخـکـې کـړ. په صـحيحينو کې لولو چې يو سړي له رسـول الله ﷺ څخه وپوښتل: «زموږ په منځ کې د ښـه چلند تر ټولو زيات حقدار څوک دی؟» هغه مبارک وويل: «سـتا مور، بيا سـتا مور، بيا ستا مور او بيا ستا پلار.»

د "مها" راتګ له نامناسب پوښښ سره:

په داسـې حال کې چې د دوی بحث تود و، د اريج خور چې «مها» نومېدله، په دهليزونو کې د خپلې خور اريج پسـې ګرځېدله. د مها له پوښـښـه څرګندېدله چې حجاب ته ډېره پاملرنه نه کوي. داسـې تنګې جامې يې اغوسـتې وې چې د بدن ټول غړي يې ترې

ketabton.com - The Digital Library



معلومېدل او پر لاره د تګ پر مهال يې لوېديځ ډوله پتلون (شـــــلوار) پام اړوونکی و. مها د استراحت خونې ته ننوته او اريج يې له سارا سره وليده. د هغوی په ناسته حيرانه شـــــوه. لـــه ســــــلام او روغبړ وروســــتـــه يـــې د هغوی خبرو تـــه غوږ ونيو. بحث لا هم په اسلام کې د ښځو د حقونو په اړه تود و. مها ونه شوای کړای ځان کنټرول کړي او په ډېر جرات يې وويل: «ای سـارا! ځينې ښـځې تر سـړيو ډېرې هوښـياري او بختورې دي، ولې سـتاسـو په څېر خلک غواړي د ښـځې او سـړي ترمنځ فرق وکړي او ســــرحدونـه ورتـه وټاکي چې هيڅ يو يې د بل پـه چارو کې برخـه وانخلي؟! تل وايئ: سـړی... سـړی...» مها په دې اړه ډېره حيرانتيا وښـوده او همدا پوښـتنه يې تکراروله. سارا وخندل او ويې ويل: «او تاسو هم تل وايئ ښځه... ښځه... ډېره ښه مها! غوږ شه، دا د الله اراده وه چې سړی له ښځې سره توپير ولري. سړی په جوړښت او جسمي لحاظ تر ښـځې قوي دی او په عاطفي لحاظ تر هغې کمزوری دی. هر يو بايد د خپل استعداد د ودې لپاره هڅه وکړي.»

مها: «څنګه؟»

سـارا: «ښـځه ځانګړي جسـمي صـفتونه لري، لکه مياشـتنی ناروغي (حيض)، نفاس، د زيږون درد، د شـيدو ورکولو مسـايل او... او ښـځه د ادم (ع) له کينې پوښـتۍ څخه پيدا شوې، نه د سينې له هډوکي چې زړه ته نږدې دی. خو سړی مسوول دی چې د کورنۍ، ښځې او اولادونو د نفقې او ساتنې لپاره هڅه وکړي، همدا لامل دی چې په جسماني لحاظ قوي پيدا شوی دی. د دې جوړښتي توپير نښې په جسمي ځواک، عاطفه او ځينو شرعي احکامو کې ښکاري.»

«زما هدف په ذکاوت او هوښياری کې توپير نه دی، بلکې هدف مې دا دی چې سړی په جسمي لحاظ د درنو کارونو او د نفقې ګټلو لپاره ډېر ځواکمن دی. که ښځې د کور د نفقې د مسـوولیت وړتيا لرلی، نو الله به هغه مسـووله ګرځولې وه. د بي بي مريم (ع) مور په دې توپير پوهېدلې وه، ځکه يې وويل: ﴿وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَى﴾ [آل عمران: ۳۶]. "او هلک د نجلۍ په څېر نه دی."»

ketabton.com - The Digital Library



داسې ښکارېده چې مها د سارا په خبرو قانع نه وه، نو سارا ورته وکتل او ویې ویل: «مها! ښښنه غواړم، که ته د یو ښوونځي ښوونکې وې او غوښتل دې په یو تالار کې مجلس ترتیب کړې او هلته دې مختلفې دندې درلودلای، لکه: پاککاري، پلان جوړونه، د پانو لګول، د تختې پاکول، د کلمو شمېرل؛ او ستا په وړاندې شل زده کوونکي وای چې هر یو یې بېل صفتونه درلودل، یو پکې چاغ و، بل ډنګر، بل ویاند او بل ډارن؛ نو تا به له دې کسانو څوک غوره کاوه چې په زینه (زنګۍ) پورته شي او پانې ولګوي؟ ایا یو چاغ زده کوونکی دې کار ته مناسب دی؟» مها په خندا ځواب ورکړ: «یقیناً چې نه، بلکې یو ډنګر او سپک زده کوونکی به مې غوره کاوه.» سارا دوام ورکړ: «پاک کارۍ ته څوک مناسب دی؟ هغه زده کوونکی چې ډېر خبرلوڅ او جسور وي، سمه ده؟» مها ځواب ورکړ: «نه! بلکې هغه به مې د مجلس د ویاند په توګه د مېلمنو هرکلي ته ټاکه او نور کسان به مې د پاکارۍ او پاڼو لګولو لپاره ګمارل.»

سارا: «ډېره ښه، اوس درنه پوښتم: ایا په دې وېش کې تا پر کوم زده کوونکي ظلم وکړ؟» مها ځواب ورکړ: «نه، ټول کارونه مهم وو او دا یو ډول همکاري او بشپړتیا وه.»

سارا: «هو، همداسې ده. اوس فرض کړه که هغه چاغ زده کوونکي اعتراض کړی وای، یا هغه ډنګر له خپلې دندې ناراضه وای، تا به څه کړي وای؟» مها: «ما د هیڅ یو اعتراض نه مانه؛ ځکه چې د مسوولیت سپارل خپل اهل ته ظلم نه ګڼل کیږي.»

دلته سارا خپل هدف ته ورسېده او ویې ویل: «ډېر عالي! نو اوس ولې ته له دې خبرې سره مخالفه یې چې ځینې مسوولیتونه د سړي او ځینې د ښځې وي؟ هر یو د خپلې وړتیا له مخې مسوول دی.»

په دې وخت کې مها په غوځه توګه له سارا وپوښتل: «ته وایې چې له کوره د ښځې وتل حرام دي؟»

ketabton.com - The Digital Library



سارا په حیرت وویل: «ما ونه ویل چې حرام دي.»
اریج: «ډېر داسې کارونه شته چې ښځه یې لکه د سړي په څېر او حتی تر سړي ښه ترسره کولی شي.»

سارا: ستا خبره سمه ده، خو غوږ شه؛ ستا نظر د هغې ښځې په اړه څه دی چې د موټرو په ورکشاپ کې کار کوي، ټایرونه خلاصوي او پمپ کوي یې؟ یا ستا نظر د هغې ښځې په اړه څه دی چې په ښاروالۍ کې کار کوي او دنده یې د ښار د کثافاتو ټولول دي، یا ځمکه کیندي او ډېرې لګوي، حتی کله نا کله د ویالو د بندېدو له امله په لښتیو کې ننوزي او کثافات راوباسي؟ یا ستا نظر د هغې ښځې په اړه څه دی چې په سخته ګرمۍ کې هره ورځ اته ساعته د لویو ماشینونو (جرثقیل) ډرایوره وي، زاړه موټران کشوي او د دنګو ودانیو لپاره درانه اوسپنیز توکي لیږدوي؟ یا د هغې ښځې په اړه چې کار یې د څاګانو کیندل او د پلونو جوړول وي، د سمنټو بوجۍ پورته کوي او له یوه موټره یې بل ته باروي؟ ایا دا کارونه د ښځې طبعیت ته مناسب دي که د سړي؟
په داسې حال کې چې سارا دا مثالونه ورکول، اریج او مها کله نا کله په ارامه خندا غوږ ورته نیولی و، چې ناڅاپه د خندا غړونه پورته شول.
سارا هغوی ارامۍ ته راوبللې. هر هوښیار انسان ته، که مسلمان وي که غیر مسلمان، دا روښانه ده چې دا دندې د یوې ښځې له فطرت سره سمون نه لري. حتی د شرکتونو خاوندان هیڅکله ښځې پر داسې درنو مسوولیتونو نه ګماري؛ ځکه پوهیږي چې دا کارونه د هغوی له وسه بهر دي. که یوه ښځه دا کارونه پیل کړي، ورو ورو خپل ښځینه توب او لطافت له لاسه ورکوي، پوټکی یې پنډیږي، عضلې یې راوځي او رنګ یې تیره کیږي.

اریج او مها د خندا اوښکې پاکې کړې او سارا خپله خبره تکرار کړه: «اجازه راکړئ خپله خبره پای ته ورسوم.»

اریج: مهرباني وکړه.

سارا: ښه، خو بیا به نه خاندئ.

ketabton.com - The Digital Library



مها: سمه ده، سمه ده.

سارا داسې دوام ورکړ: د دې مثالونو په مقابل کې، ستاسو نظر د هغه سړي په اړه څه دی چې په کور ناست وي او ماشومانو ته د شيدو ورکولو مسووليت لري؟ هغوی په غېږ کې نيسي، که ماشوم وژاړي نو هغه ته الو لو لو (لالايي) وايي او ماشومانه سندرې ورته بولي ترڅو ارام شي. او که لور يې بلوغ ته ورسيږي، هغه ورته د دې نوي پړاو په اړه تشريح ورکوي. او کله چې د شپې له خپلې مېرمنې سره ارام پروت وي، ناڅاپه د غله غږ واوري، نو چيغې کړي او له خپلې ښځې وغواړي چې غله پسې ورشي او ماشومان ټول کړي!

ستاسو نظر د داسې سړي په اړه څه دی چې...؟ دلته اريج خپله خندا مهار نه کړای شوه او ويې ويل: «فرض کړه: ښځه چيغې وهي او سړی غله پسې منډې وهي؟» سارا په پوره ځيرکتيا ځواب ورکړ: «ولې؟ مګر د ښځې او سړي ترمنځ بايد مساوات او برابري نه وي؟ هر يو يې بايد د بل مسووليت ترسره کړي!» مها وويل: «دا خو د حيرانتيا خبره ده! مګر سړی کولی شي د ماشوم شيدې برابرې کړي؟ کولی شي ماشوم په غېږ کې ونيسي او هغه ته (عاطفي) شيدې ورکړي او د خپلو لونو په ځانګړو ستونزو خبرې وکړي؟ نو بيا خو يوازې دا پاتې ده چې سړی اميندواره شي او ماشوم وزېږوي!» دلته نو د سارا د خندا وار و، د خپل ټيکري پيڅکه يې پر خوله ونيوله او په خندا کې ډوبه شوه، ځکه د اميندواره سړي تصور ورته ډېر عجيبه و. د ښځې او سړي ترمنځ توپير د څه لپاره؟ سارا: راځئ بيرته خپل بحث ته را وګرځو. هغه توپيرونه چې د ښځې او سړي ترمنځ شته، د هغوی د فطرت او جوړښت له امله دي او ځيني احکام يوازې ښځو پورې ځانګړي دي. ښځه يوه ملکه ده چې نور يې خدمت کوي. پر سړي واجب دي چې د خپلې مېرمنې، لور، مور او هغو ټولو کسانو نفقه ورکړي چې د ده تر کفالت لاندې دي. سړی بايد د هغوی په خوراک، پوښاک او درملنه کې ناغېړي ونه کړي او د هغوی له عزت او حيا څخه دفاع وکړي. رسول الله ﷺ فرمايي: «هر څوک چې د خپل ناموس په دفاع کې ووژل شي، هغه شهيد دی.» سړي د ښځو سرپرست (قوام) دي ترڅو د هغوی ارزښتونه

ketabton.com - The Digital Library



وساتي او د ژوند لګښتونه ورته برابر کړي.
د دې ایت تفسیر هم همدا دی: ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ﴾ [النساء: ۳۴]. «نارینه پر ښځو واکمن (سرپرست) دي، له دې امله چې الله ځینو ته پر ځینو نورو غوره والی ورکړی او له دې امله چې هغوی (نارینه) له خپلو مالونو څخه لګښت کوي.»
د ښځې دنده د کور د چارو سمبالول او د خپل میړه او اولادونو پالنه ده چې د هغې له فطرت سره سمون لري، او د سړي دنده د بهرنیو چارو ساتنه او د کورنۍ پالنه ده. له همدې امله الله تعالی ډېر هغه عبادتونه چې پر سړیو فرض دي، له ښځو لرې کړي دي؛ لکه پر سړیو جهاد فرض دی او د جمعې په لمانځه کې ګډون، که د اوړي سخته ګرمي وي او که د ژمي یخنۍ.

اریج په پرله پسې ډول ویل: «خو سارا... دا پدې معنی چې...» داسې ښکارېده چې په خپلو خبرو کې دوه زړې ده.

سارا ورته وویل: «غواړې څه ووایې؟»

اریج: «ځینې تبعیضونه شته؛ لکه دا چې ولې د میراث په برخه کې د ښځې برخه د سړي نیمایي ده؟ ایا دلته اسلامي شریعت تبعیض نه دی کړی؟»
سارا په داسې حال کې چې زړه یې د الله له محبت او عظمت څخه ډک و، ویې ویل: «ته ګومان کوې چې اسلام له ښځو سره دښمني لري؟ الله له داسې کینو پاک دی! که داسې وای، نو د ښځو په لمانځه کې به یې اسانتیا نه راوسته. ښځې ته اجازه ده چې په میاشت کې څو ورځې له لمانځه معاف وي. د میاشتنۍ ناروغۍ پر مهال الله پر ښځې رحم کړی او حتی د روژې په میاشت کې یې ورته د روژې خوړل جایز کړي دي. حتی د حج په فریضه کې، که ښځه ډېره شتمنه هم وي خو که محرم ورسره نه وي، دا فریضه تر هغې ترې ساقط ده.»

اریج: «ګوره زه پوهیږم چې الله په عدل او انصاف حکم کوي، خو غواړم د دې شرعي حکم په فلسفه پوه شم چې ولې په میراث کې د ښځې او سړي برخه توپیر لري؟»

ketabton.com - The Digital Library



ســـارا: «الله تعالی هیڅ شــــی بې حکمته نه مقرروي. هغه زموږ رب دی او زموږ په مصلحتونو تر موږ ښه پوهیږي. یو مثال درته وایم: یو سړی مري او یو زوی او یوه لور ترې پاتې کیږي، د پلار میراث ۱۵۰ میلیونه افغانی دی. اوس د لور او زوی برخه څومره شوه؟»

اریج: «۵۰ میلیونه د لور او ۱۰۰ میلیونه د زوی.»

ســارا: «ســمه ده، له یو څه وخت وروســته لور واده کوي او مهر یې ۵۰ میلیونه ټاکل کیږي، اوس د لور ټول مال څومره شو؟»

اریج: «۱۰۰ میلیونه.»

ســارا: «د رواج له مخې د واده په مراســمو کې ناوې ته د دوســتانو لخوا ډالۍ ورکول کیږي، فرض کړه دا ډالۍ ۱۰ میلیونه شــوې، اوس څومره شــوې؟» اریج: «۱۱۰ میلیونه.»

سارا: «دې نجلۍ ته خاوند درنه بیه (جهیز)، کور او فرنیچر اخلي، د سفر لګښت، ډالۍ او د واده د ډوډۍ لګښــت ټول د مېړه پر غاړه دي. خو بل لور ته زوی (ورور) وګوره؛ هغه د یوې نجلۍ غوښتنه کوي او ورته ۵۰ میلیونه مهر ټاکي، اوس ورسره څومره پاتې شول؟»

اریج: «۵۰ میلیونه.»

ســارا: «له هغې وروســته زلمی د کور وســایل اخلي او پر واده ډېر لګښــت کوي چې شــاوخوا ۶۰ میلیونه کیږي. ښــه هوښــیارې اغلې! اوس زلمي ته څه پاتې شــول؟» اریج په خندا ځواب ورکړ: «۱۰ میلیونه نور هم پوروړی شــو.» ســارا: «او لا دا هم پاتې ده چې ســړی باید د کور، مېرمنې او اولادونو لګښــت او د ښوونځي فیسونه ورکړي. دا یو مسوولیت هم د ښځې پر غاړه نه دی. خو خور یې خپل ۱۱۰ میلیونه په یوه ګټوره پروژه کې لګوي او ترې ګټه اخلي، په داســې حال کې چې مېړه یې اړ دی د هغې د ډوډۍ، کالو او حتی د برق او اوبو بلونه هم ورکړي. نو اریج

ketabton.com - The Digital Library



جاني! د سړيو مال د ښځو پر چارو مصرفيږي، که دا ښځه مور وي، که خور وي او که لور. ربښتيا هم الله فرمايي: ﴿إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ﴾. "بېشکه ستا رب ډېر حکمت لرونکی او پوه دی."»

پر اريج او مها يو ځانګړی ارامتيا او هيبت خپور شـــو او د الله په حکمتونو کې ډوبې شـوې. «ای الله! سـتا شـکر، ته څومره حکيم او عادل يې! ايا موږ سـتا له حکم پرته بل حکم غواړو؟ ايا ستا له شـريعت څخه بل کامل شـريعت شـته؟ چېرته دي هغه کسـان چې غواړي موږ لـه دې الهي احکـامو جلا کړي؟ داســـې خلـک چې غواړي موږ لـه دينـه وګرځوي، ګواکې دين يوازې د ســـړيو لپـاره دی او ښـــځې پکې برخـه نـه لري!» بـــېشـــــکـــه ســـــتـــا رب تـــدبـــيـــر کـــوونـــکـــی او پـــوه دی سارا: پر موږ لازمه ده چې د خپل رب په وېش راضـي واوسو. لکه څنګه چې سړيو ته روا نه ده چې هغه کارونه وکړي چې ښـځو ته اجازه ورکړل شـوې (لکه د سرو زرو او سـپينو زرو ګاڼې اغوسـتل، د ورېښـمو جامې اغوسـتل او د ځينو سـختو شـرعي احکامو سـاقط کېدل)، همداسـې ښـځو ته هم لازمه ده چې د الله په وېش خوښـې او راضـي وي. مسـلمانې ښـځې او سـړي ته جايز نه ده چې په هغو توپيرونو کې چې شـريعت د هر يو لپاره ځانګړي کړي، د بدلون غوښتنه وکړي؛ ځکه دا کار د الله پر تقدير او شريعت باندې د ناخوښۍ سبب کيږي. له همدې امله الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ...﴾ [النسـاء: ۳۲]. «او د هغه څه هيله مه کوئ چې الله په هغه سـره سـتاسـو ځينو ته پر ځينو نورو غوره والی ورکړی دی... نارينه وو ته له هغه څه برخه شـته چې ګټلي يې دي او ښـځو ته هم له هغه څه برخه شـته چې ګټلي يې دي، او لـه الله څخه د هغه فضل وغواړئ.»

کله چې موږ لولو چې الله تعالی په صـريح ډول منع کړي يو چې حتی د داسـې مسـاوات "تمنّا او هيله" هم ونه کړو، نو د هغه چا به څه حال وي چې د ښـځې او سـړي ترمنځ دا دغو شـــرعي توپيرونو څخه بيخي انکار کوي؟ او د هغه چا بـه څه حال وي چې د دې احکامو د لغوه کولو ناري وهي او په هغو چارو کې د مســـاوات دعوه کوي چې بيخي امکان نه لري؟ په خدای قسـم که په ټولو احکامو کې مسـاوات وای، نو پر دواړو به ظلم

ketabton.com - The Digital Library



شــــوی وای؛ ځکــه هغوی پــه خلقــت او وړتیــا کې ســــره برابـر نــه دي.

## د تقوا حجاب:

مها: «نو ځکه الله پر ښــځې حجاب فرض کړی او ســړي ته یې اختیار ورکړی چې هر څه یې زړه غواړي ویې اغوندي!!»

ســارا: «نه، داســې نه ده. ســړي ته هم اجازه نشــته چې هر څه یې زړه وغواړي، ویې اغوندي.»

مها: «څنګه؟ تشریح یې کړه.»

سارا: «حجاب او ستر پر هر مسلمان فرض دی. پر سړیو لازمه ده چې خپله عورت پټه کړي (له نامه څخه تر زنګانه پورې)، مګر د خپلې مېرمنې لپاره یې ښــکاره کولی شــي. شریعت حتی د اخلاقي انحرافاتو د مخنیوي لپاره ماشومانو ته اجازه نه ده ورکړې چې په یوه بستر کې یوځای ویده شي. په جاهلیت کې قریشو په بربنډه توګه طواف کاوه، خو کله چې رسـول الله ﷺ مکه فتحه کړه، یو شـرعي قانون یې صـادر کړ چې هیڅوک (ښـځه یا ســـړی) حق نه لري په بربنډه توګه طواف وکړي او نه هم څوک اجازه لري چې په لغړ حالت کې لمونځ وکړي، حتی که په تیاره کې یوازې هم وي، باید ځان پټ کړي. رســـول الله ﷺ وفرمــایـل: "الله تعـالی تر هر چـا زیـات حقـدار دی چې حیـا ترې وشــــي."» «حتی د احرام په جامو کې هم توپیر شـته؛ سـړي له دې منعه شـوي چې د ښـځو په څېر سـینګار شـوي کالي یا پتلون واغوندي، خو برعکس ښـځه مکلفه ده چې خپلې پښــې پټې کړي. الله تعالی مؤمنـانو تـه امر کړی چې د نورو عورت تـه ونـه ګوري او د شــــهوت پاروونکو کتلو څخه ډډه وکړي. دا ټول هغه شـــرعي آداب دي چې پر ښـــځو او ســـړیو دواړو واجب دي.»

«نو سـړی هم د خپل بدن د ځینو برخو په پټولو مکلف دی او ښـځې ته هم د حجاب امر شـوی. ښـځې ته حجاب ځکه ډېر مناسـب دی چې هغه د "لیوه صـفته" انسـانانو له سترګو

ketabton.com - The Digital Library



محفوظه پاتې شـي. الله تعالی غواړي چې د هغې ښـکلا پټه پاتې شـي ترڅو څوک يې پر عفت تېری ونه کړي.»

اریـج: «پـه خـدای قسـم چـې دا ډېـره ښـکـلـې خـبـره ده.»
سـارا: «زما یوه ښـځه په یاد ده چې لمونځ او عبادت يې کاوه او مېړه يې ډېره ورباندې ګرانه وه، خو په حجاب کې يې غفلت کاوه. خپل مخ به يې د مېړه ورونو او ملګرو ته ښکاره کاوه او حتی لاس به يې ورکاوه. مېړه يې ورباندې شـکمن شـو: "دې سـړي ولې زما ښـځې ته داسـې وکتل؟ ولې مې ښـځې پلاني سـړي ته لاس ورکړ؟ ولې يې ورته وخندل؟" مېړه داسې احساس کاوه چې ښځه يې په بل چا مینه ده. هغه احساس کاوه چې دی پاچا دی او ښځه يې ملکه ده، نو بل څوک يې په ملکيت کې د مداخلې حق نه لري.»
«دې ښـځې ویل: د ډېرو جنجالونو امله مې څو ځله د طلاق فکر وکړ. خو یوه ورځ مې پرېکړه وکړه چې الهي امر (حجاب) پلي کړم. مخ مې پټ کړ او له نامحرمو سره مې له ناسـتې پاسـتې ډډه وکړه. ناڅاپه مې ولیدل چې هغو خلکو اوس ماته ډېر احترام کاوه. له هغه وروسته مې له مېړه سره ټولې ستونزې حل شوې. نو اریج! الله ستا خالق دی او هغه سـتـا پـه ګـټـه تـر بـل هـر چـا ښـه پـوهـیـږي.»
د بحث ډګر:

اریج: «خو علما خو د حجاب په حکم کې اختلاف لري؛ په دې کې چې ایا ټول بدن پټ شي که مخ او دوه لاسونه ښکاره وي؟»

سـارا: «داسـې ښـکـاري چې بحـث مو اوس اصـلـي ټکي تـه ورسـېـد.»
اریج: «هو، بحث ګرم دی، خو ډاډه اوسـه زه د حق په لټه کې یم، نو په شـرعي دلیلونو مې قانع کړه.»

سارا: «زما دلیلونه له قرآن، سنتو او د رسول الله ﷺ د زمانې د پاکو ښځو له عمالو څخه دي. د مخ پټول د پېړیو راهیسـې د مسـلمانو ښـځو طریقه وه او اوس دا چې مخ ښـکاره کـول عـام شـوي، دا پـه وروسـتـیـو کـلـونـو کـې رامـنـځـتـه شـوي دي.»
اریـج: «دا خـو د حـیـرانـتـیـا خـبـره ده! د دې خـبـرې لـپـاره دلـیـل لـرې؟»

ketabton.com - The Digital Library



سارا: «اوس به يې درته ثابته کړم. د مخ ښکاره کول پخوا بيخي شتون نه درلود. زه ټول دليلونه په ياد نه لرم، خو په يو کوچني کتاب کې مې ليکلي دي چې د وېشـلو لپاره مې راوړی دی. يوه شـېبه صـبر وکړئ چې نسـخه يې پيدا کړم.»
سـارا لاړه او له څو پاڼو سره بېرته راغله او په لوسـتلو يې پيل وکړ: «دريم دليل: ځينې مسـلماني خويندې په حجاب کې ناغېړي کوي او مخونه ښـکاره کوي، سـره له دې چې مسـلمانانو په پېړيو پېړيو خپل مخونه پټول...»
علامه حافظ ابن حجر (متوفی ۸۵۲ هــ ق) داسې وايي: «تل د پخوانيو او اوسنيو ښځو د ژوند لاره دا وه چې د نـامحرمو سـړيو په وړانـدې يې خپل مخونـه پټول.»
امام ابوحامد غزالي فرمايلي دي: «تل سړي په داسې حالت کې وو چې مخونه يې ښکاره وو او ښـځې بـه د نـقـاب (پـلـو) پـه واسـطـه پـټـې وتـلـې.» [۱]
امام او مفسر، علامه سيوطي مصري (متوفی ۹۱۱ هـ ق) د دې ايت په تفسير کې: ﴿يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ﴾ [الأحزاب: ۵۹] وايي: «دا ايت د حجاب په اړه نازل شوی او د سر او مخ په پټولو حکم کوي. د دې خبرې د ثبوت لپاره يو لوی سـند دا دی چې: د مخ د ښـکاره کولو په رد کې پخوانيو علماوو ډېر کتابونه ليکلي او په دې لاره کې يې ډېرې هڅې کړې دي. دا پخپله په دې دلالت کوي چې د مخ ښـکاره کول کوم طبيعي امر نه و، بلکې د وروستيو پېړيو علماوو اړتيا ليدلې چې د هغه چا په ځواب کې کتابونه وليکي چې د مخ ښکاره کول جايز بولي.»

د مخ پټول د اسلامي تاريخ په اوږدو کې د مسلمانو ښځو يو ميراثي عمل پاتې شوی دی. حتی هغه انځورونه چې په اسلامي هېوادونو کې لکه (ترکيه، مصـر، تونس او سـوريه) کې ايسـتل شـوي، دا ښـيي چې مسـلماني ښـځې تل په حجاب او نقاب کې وې. لکه څنګه چې د قاسـمي په کتاب (مکتب عنبر) او د احمد خالد په اثر (الظاهر الحداد و مسـألة الحداثة) کې او په هر هغه کتاب کې چې د ۱۹۱۶ ميلادي کال د مصـر د اوښـتلو (انـقـلاب) پـه اړه لـيـکـل شـوي، دا مـوضـوع يـاده شـوې ده.
څلورم دليل: دا چې...

ketabton.com - The Digital Library



اریج: «ســـارا! بس ده، ســـتا خبرې قانع کوونکې دي؛ خو ممکن د حجاب څخه د هغوی مطلب هغه څه نه وي چې موږ يې په اړه بحث کوو، بلکې مطلب يې بل څه وي.»
سارا: «نه، دا امکان نه لري. شرعي حجاب او د هغه شرطونه روښانه او څرگند دي. د ښـځې په حجاب کې د ټول بدن پټول او د هغې د ښـکلا نه ښـکاره کول شـامل دي، لکه څنگه چې الله تعالی فرمـايي: ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ﴾ [النور: ٣١]. "او خپل زينت دې نـه ښکاره کوي."»

اریج: «خو الله تعالی یوازې د ښـکلا له ښـکاره کولو منعه کړې، لکه څنگه چې په دوام کې فرمايي: ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ "مگر هغه څه چې ترې ښکاره شي." نو له دې معلوميږي چې د مخ او لاســـونو (تر مړونـدو) ښـــکـاره کول کومـه ســـتونزه نـه لري!»
ســارا: «داسـې نه ده خورې! له دې ایت څخه مطلب لاسـونه او مخ نه دي؛ بلکې په ایت کې چې کوم اســـتثنا راغلې ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾، مطلب ترې هغه څه دي چې باید پټ وي خو بې له قصـده ښـکاره شـي، لکه د ښـځې لوړوالی، ټیټوالی، ډنگروالی یا چاغوالی او داسې نور...»

«د بېلگې په توگه: که باد راغی او د ښـــځې څادر يې پورته کړ او د هغې د بدن یا جامو کومه برخه ښـکاره شوه او دا کار د هغې په خوښـه نه و، نو په دې حالت کې پر ښـځه گناه نشته. ځکه خو الله تعالی وفرمایل: ﴿إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ (مگر هغه څه چې ترې ښـکاره شي) او دا يې ونه فرمایل: "الا ما اظهرت" (مگر هغه څه چې ښځه يې په قصد ښکاره کړي).»
اریج: «ســـارا، پـه رښـــتيـا چې ســـتـا خبرې ډېرې ښـــکلې او منطقي دي.»
ســـارا: «ډېره ښـــه، اوس بـه درتـه خبرې نورې هم پـه زړه پورې شـــي.»
شـــرعـــي حـــجـــاب پـــه کـــومـــو جـــامـــو کـــې کـــیـــږي؟
«حجاب په اوږدو ټيکريو او نقاب ســره کيږي چې معنی يې "پټول" دي. هر هغه څه چې ورسره د ښځې سر، غاړه او گرېوان پټ شي، حجاب دی. عرب هر هغه شي ته چې سر او مخ پرې پټ شــي "خمار" (ټيکری/پوړنی) وايي. مشــهور حديث "خمّروا آنيتکم" هم له همدې کلمې اخيستل شـوی، يعنې: د خپلو خوړو او اوبو لوښـي پټ کړئ ترڅو کوم موذي

ketabton.com - The Digital Library



حیوان پکې ونه غورځي. همدا لامل دی چې شــــرابو ته "خمر" وایي؛ ځکه چې هغه عقل او هوش پټوي.»

د ټیکري (خمار) د اغوستلو طریقه: ښځه باید خپل سر، ویښتان او هغه څه چې په کور کې یې د محارمو په وړاندې ښکاره کوي، پټ کړي او ټیکری د خپل مخ شاوخوا تاو کړي او په پاتې برخه یې خپل مخ، ســینه او غاړه پټه کړي. خو په کور کې اجازه لري چې د خپلو محارمو په وړاندې سینګار، ویښتان، غاړه او مخ ښکاره کړي؛ خو کله چې له کوره بهر وځـــي، مـــکـــلـــفـــه ده چـــې دا غـــړي پـــټ کـــړي.
[۱]- فتح الباري ج۹/۳۳۷.

## د حجاب لرونکې ښځې د ټیکري (پوړني) ځانګړنې:

د ښـځې پوښـاک باید دومره نری نه وي چې ویښـتان، مخ، غوږونه یا غاړه ترې ښـکاره شي.

ام علقمه (رح) وایي: «ما حفصـــه د عبدالرحمن بن ابوبکر (رض) لور ولیده چې خپلې ترور بي بي عایشــې (رضـــی الله عنها) ته ورغله؛ هغې یو نری ټیکری پر ســر کړی و چې غاړه یې ترې ښـــکارېده. بي بي عایشـــې (رض) هغه منعه کړه، ټیکری یې ورته څیرې کړ او ویې ویل: ایا نه پوهېږې چې الله تعالی په ســـورت نور کې څه حکم نازل کړی دی؟ بیا یې د کور له والو وغوښـتل چې یو مناسـب او ډبل ټیکری ورته راوړي.» دا برخه چې موږ پرې بحث وکړ، هغه حجاب و چې سر، مخ او ویښتان پټوي؛ خو دویمه برخه چې ټول بدن پوښـــي، هغې ته "چادري" یا په عربي کې "عبا" وایي. چادري هغه ټـوټـه ده چـې د ښـــځـې لـه ســـره تـر پښـــو پـورې ټـول بـدن پـټـوي. اریـج د ســـارا د خـبـرو پـه مـنـځ کـې د اعـتـراض پـه ډول وویـل: «ســارا! ګورې چې ځینې ښـځې سـره له دې چې عبا یې اغوسـتې او نقاب یې هم پر مخ دی، خـو بـیـا هـم خـپـل ســـیـنـګـار او زیـنـت ښـــکـاره کـوي؟» ســـــارا: «ســـتـــا مـــقـصـــد څـــه دی؟» اریج: «زما ځینې ټولګیوالې ډېرې تنګې عبایګانې اغوندي چې د بدن حساسې برخې لکه

ketabton.com - The Digital Library



سـینـه او شـا تـرې مـعلـومـېږي او تـحـریـکـوونـکـې وي.»
په دې وخت کې مها د اریج خبره پرې کړه او ویې ویل: «حتی پر ځینو چادریو باندې چې نجونې یې اغوندي، د هغوی نومونه یا د نوم لومړی توری لیکل شـوی وي!»
سارا وویل: «ما د ډېرو علماوو فتواوې لوستې دي چې د داسې چادریانو اغوستل حرام دي، حتـی پېـرودل او پـلـورل یـې هـم روا نـه دي.»
اریج: «ښېنه غواړم سارا! که یوه نجلۍ مناسبه عبا واغوندي خو مخ او لاسونه یې پټ نه کړي او عطر یا سـینګـار هم ونـه کړي، ایـا بیـا هم سـتونزه شـتـه؟»
مـهـا هـم وویـل: «ربـتـیـا وایـي، ایـا دا کـومـه سـتـونـزه لـري؟»
سـارا وخنـدل او ویې ویـل: «سـتونزه!؟ هو، ډېره لویـه سـتونزه لري.»
اریج: «څنګه؟ څه ستونزه؟»

سارا: «ایا تاسو د یوې مسلمانې نجلۍ په توګه په شرعي دلیلونو قانع کېږئ که نه؟»

اریج: «بېشکه چې قانع کېږو.»

سـارا: «نو غوږ شـئ! ما درته وویل چې د صـحابه کرامو، تابعینو او د اسـلامي تاریخ د پېړیو په اوږدو کې ښـځو له کوره بهر خپل مخونه نه ښـکاره کول او په زینت سـره نه وتلې. د ټولو مذاهبو لویو امامانو لکه امام ابن عبدالبر مالیکي، امام نووي شـافعي، شـیخ الاسـلام ابن تیمیه حنبلي او نورو پر همدې خبره اتفاق کړی دی. دا طریقه تر ۱۴مې هـجـري پـېـړۍ پـورې پـه مسـلـمـانـانـو کـې دود وه.»
«په اسلامي هېوادونو کې د بې حجابۍ پیل لومړی د مخ له ښکاره کولو وشو. دا لړۍ په مصر، ترکیه، عراق او سوریه کې خپره شوه او بیا ورو ورو نورو اسلامي هیوادونو ته ورسېده، تر دې چې خبره تر بربندۍ او نامناسبو جامو پورې ورسېده. د مخ ښکاره کول خپله یوه کیسه لري.»

مها وویل: «څه کیسه؟ غواړم دا کیسه راته وکړې.»

سـارا: «ډېره ښـه، درته به یې وکړم. خو سـتاسـو نظر څه دی چې لومړی د مخ پټولو د وجوب دلیلونه وپېژنو؟»

ketabton.com - The Digital Library



اریـج: «مـا شـــــاء الله، ســــتـا حــافظـې تــه ګوره! دا ټـول دې پــه یـاد دي؟» وروستۍ پرده:

ســارا په دې موضـــوع کې ماهره وه او ډېر معلومات یې لرل. هغې ورته وویل: «ما دا ټول دلیلونه لوسـتي دي، خو پرون مې په پوهنتون کې د کتابونو په نندارتون کې یو کتاب ولید چې د حجاب د تاریخ، د بې حجابۍ د لاملونو او دلیلونو په اړه و. ان شـــاء الله نن ماسپښین ځم او هغه کتاب اخلم.»

اریج هم نندارتون ته لېواله شوه او مها ته یې وویل: «مها! ستا نظر څه دی چې ټول لاړ شـو او نندارتون وګورو؟» مها که څه هم له کتاب لوسـتلو سـره ډېره مینه نه لرله، خو د رضــــایـت ســـر یې وخوځــاوه ترڅو ســـبـا بیـا لــه ســـارا ســـره وګوري. نجونو له یو بل سره خدای پاماني وکړه او ژمنه یې وکړه چې سبا ماسپښین په درې بجو په نندارتون کې سره وګوري. په لاره کې مها او اریج د سارا د خبرو په اړه بحث کاوه.

مها وویل: «ما په انټرنیټ کې ډېرې لیکنې لوسـتلې چې پر ښـځو ظلم کیږي او حقوق یې تر پښو لاندې دي... خو اریج! باور وکړه اوس مې یقین شو چې هغه لیکنې بې ځایه وې. که زه خپل سینګار او ښکلا ننداري ته وړاندې کړم، لومړی ګټه ترې سړی پورته کوي؛ خو نه هر ســړی، بلکې یوازې مفســد او چټل ســړي. صــالح ســړي خو خپلې ســترګې ټیټوي.»

اریج د مها له خبرو حیرانه شـوه؛ ځکه هغې له ډېر وخت راهیسـې هڅه کوله مها حجاب ته وهڅوي. اریج که څه هم تر مها مشـره وه او لمونځ او روژه یې هم نیولو، خو یو ډول "روښــانفکره" وه او په کتابونو کې یې لوسـتي وو چې د مخ ښــکاره کول جایز دي او دا یوازې د سـعودي علماوو نظر دی. خو د ســارا ســاده او روښــانه خبرو اریج په فکر کې ډوبه کړه. هغه پوه شوه چې هرې خبرې ته یې بې له تحقیقه چې څومره باوري ده، غاړه ایښې وه.

د لیدنې وخت راورسېد او سارا د نندارتون په لوري روانه شوه ترڅو له هغو دوو نجونو سره وګوري.

ketabton.com - The Digital Library



اریج او مها هم پوهنتون ته لاړل. ننداړتون پرانیستی و. دا ننداړتون هر کال جوړېده او عامو خلکو ته یې د لیدنې موقع ورکوله. لیدونکي له بېلابېلو پرګنو څخه وو: د لېسو زده کوونکي، ښوونکي، د کور مېرمنې او ان هغه کسان چې د کتاب اخیستلو لپاره نه، بلکې د چکر او وخت تېرولو لپاره راغلي وو.
سارا تر خپلو ملګرو مخکې ورسېده او هغه ځانګړی کتاب یې واخیست. هغې د کتاب پاڼې اړولې رااړولې ترڅو اریج او مها راورسېږي. کله چې هغه دواړې راغلې، سارا یې هرکلي ته ورپاڅېده. په داسې حال کې چې کتاب یې په لاس کې و او پوهېده چې بحث به اوږد او ګرم وي، هغوی یې د پوهنتون د ډوډۍ خوړلو تالار (میزتون) ته روانې کړې.

## د ډوډۍ خوړلو تالار:

تالار خورا لوی و او ډېر ګرد میزونه پکې وو چې شاوخوا یې څلورو محصلینو ناسته کولای شوای؛ خو هلته ډېره ګڼه ګونه وه، ځکه له مېرمنو سره ډېر ماشومان هم راغلي وو. هغوی د داسې ځای په لټه کې شوې چې د دوی لپاره مناسب او له شور ماشور څخه لرې وي.

مها د تالار کیڼ لوري ته یو میز پیدا کړ چې له ګڼې ګونې لرې و. درې واړه هلته لاړې او کېناستې. سارا کتاب راوویست او هغوی ته یې وړاندې کړ.
اریج وړاندیز وکړ: «ستا نظر څه دی چې د کتاب فهرست (لړلیک) راته ولولې او موږ تري تر ټولو مهم مطالب غوره کړو؟»
سارا له لړلیک څخه پیل وکړ: «۳مه پاڼه سریزه، ۶مه پاڼه د حجاب اهمیت، ۱۱مه پاڼه ولې حجاب واجب دی؟ ۱۵مه پاڼه په قرآن او سنتو کې د مخ پټولو د وجوب دلیلونه، ۴۳مه پاڼه د بې حجابۍ (کشفِ حجاب) کیسه، ۴۶مه پاڼه د مخ ښکاره کولو د جواز په اړه درې دلیلونه او هغه ځوابونه چې ورته ورکول شوي دي.»
کله چې سارا لړلیک لوست، اریج په ډېره لېوالتیا چیغه کړه: «ډېر عالي دی! ډېر ښه کتاب دی؛ خو دا ووایه چې څومره وخت لرو او ننداړتون کله تړل کیږي؟»

ketabton.com - The Digital Library



مـــهـــا ځـــواب ورکـــړ: «ډېـــر وخـــت لـــرو، نـــږدې ۳ ســـــــاعـــتـــه.» ســارا: «زه د نندارتون تر تړل کېدو پورې دلته نه شـم پاتې کېدای، ځکه پلار مې له لمر لوېدو وروسته راپسې راځي. خو لا وخت لرو. اوس کوم مطلب غوره کړو؟ له سریزې یې پیل کړم؟»

مها وویل: «نه، زه له سریزې سره مینه نه لرم، ستومانوونکې او سترې کوونکې وي.» اریج: «زه د الله او د هغه د رسول له کلام څخه بل هیڅ شی غوره نه ګڼم، نو له قرآن او سنتو له دلیلونو پیل کوو.»

سارا ۱۵مه پاڼه پرانیسته او په لوستلو یې پیل وکړ.

د مخ پټولو د وجوب په اړه د قرآن او سنتو دلایل:

لومړی دلیـل: د حجـاب هغـه ایـت چې پر مخ د چـادر راخورولو امر کوي خداوند فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَـــاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ...﴾ [الأحزاب: ۵۹].

«ای پیغمبره! خپلو مېرمنو، خپلو لوڼو او د مؤمنانو ښـــځو ته ووایه چې خپل چادرونه (پړوني) پر ځانونو را وځړوي. دا کار د دې لپاره ډېر مناســـب دی چې هغوی وپېژندل شــي (چې پټمنې ښـځې دي) او ونه ځورول شـــي. او الله تل بښــونکی او مهربان دی.» په دې ایت کې ټولې ښځې مخاطبې شوې دي؛ دا د رسول الله ﷺ مېرمنې، لوڼې او ټولې مؤمنې ښـځې شـاملوي. دا ایت په صـراحت سـره د ټولو مؤمنو ښـځو د مخ پټولو دلالت کوي، ترڅو خپل ټول سینګار او ښکلا د پردیو (نامحرمو) سړیو په وړاندې پټه کړي. دا هماغه څه دي چې د صــحابه کرامو مېرمنو له دې ایت څخه فهمولي وو، لکه څنګه چې عبدالرزاق په خپل کتاب کې له ام المؤمنین ام سلمه (رض) څخه روایت کوي: کله چې دا ایت نازل شو، انصاري ښځې له خپلو کورونو څخه په داسې حال کې راووتلې چې تورې چادریانې یې اغوستې وې.

ketabton.com - The Digital Library



دویم دلیل: د انصاري ښځو بې ساري ايماني غبرګون:
د ابوداود په کتاب کې راغلي چې حضرت عايشه صديقي (رض) ويلي: «ما د انصارو له ښځو څخه غوره ښځې ونه ليدې چې تر دې حده د قرآن تصديق کونکې او پرې عمل کونکې وي. کله چې د سورت نور ۳۱ ايت (او خپل زينت دې نه ښکاره کوي مګر هغه چې ترې ښکاره شي) نازل شو، سړيو دا ايتونه د رسول الله ﷺ له خولې واورېدل او خپلو ښځو ته يې ورسول. هر سړي دا ايتونه خپلې مېرمنې، لور، مور او خور ته تلاوت کړل. تا به هره ښځه ليدله چې د خپل چادري په لټه کې وه، هغه به يې واغوستلو او خپل سر او مخ به يې پرې پټ کړ. ځينو ښځو خپلې اضافي جامې وشيرلې او د ځان لپاره يې ورڅخه ټيکري او نقابونه جوړ کړل.» دا ټول د هغوی د ايمان رښتينولۍ او د الله د حکم په وړاندې د هغوی د تسليمۍ نښه وه. حضرت عايشه (رض) وايي: هغوی د رسول الله ﷺ تر شا په داسې حجاب کې ولاړې وې چې ګواکې پر سرونو يې کارغان ناست وي (د تور حجاب د وقار او ارامتيا له امله).
درېيم دليل: د عيدګاه لپاره د چادري پور کول:

حضرت ام عطيه (رض) وايي: «رسول الله ﷺ مؤمنو ښځو ته امر وکړ چې د اختر لمانځه ته حاضرې شي. هغوی عرض وکړ چې په موږ کې ځينې ښځې داسې دي چې لويې چادري نه لري چې ځان پکې پټ کړي؟ هغه مبارک ﷺ وفرمايل: "خپله خور (بله مسلمانه ښځه) دې ورته خپله چادري په پور ورکړي."» دا حديث په ښکاره ښيي چې مسلمانه ښځه بايد له چادري او شرعي پوښښ پرته د نامحرمو په وړاندې ښکاره نه شي.
څلورم دليل: د سترګو د ټيټولو حکم:

الله تعالی فرمايي: ﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ﴾ [النور: ۳۰]. «مؤمنو سړيو ته ووايه چې خپلې سترګې ټيټې کړي.»
د هر عاقل انسان لپاره دا څرګنده ده چې د ښځې د مخ ښکاره کېدل سړي د هغې ليدو ته هڅوي او وسوسې ورته پيدا کوي. له همدې امله الله تعالی په ورپسې ايت کې فرمايي: «او مؤمنو ښځو ته ووايه چې خپلې سترګې ټيټې کړي او د خپلو شرمګاوو ساتنه وکړي او خپل زينت دې نه ښکاره کوي.»

ketabton.com - The Digital Library



پنځم دلیل: د زینت د پټولو ټینګار:

قرآن فرمايي: ﴿وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ﴾ [النور: ۳۱]. «او (ښځې دې) خپلې پښې پر ځمکه نه وهي ترڅو هغه زينت يې چې پټ کړی دی، معلوم شي (د سنګار غږ يې واوريدل شي).» کله چې د ښځې د پښو د سينګار د غږ اوريدل پر سړيو حرام وي ځکه چې فتنه رامنځته کوي، نو د ښځې د مخ ښکاره کول او د پردي سړي ليدل د هغې شوندو، باڼوګانو او سترګو ته به څه حکم ولري؟! ايا د سينګار په غږ سړي په فتنه کې لويږي خو د مخ په ښکلا نه؟! دا يو منطقي دليل دی چې د مخ پټول تر سنګار پټولو ډېر اړين دي.

شپږم دليل: د زړو ښځو لپاره رخصت او استثنا:

خداوند هغې زړې ښځې ته چې عمر يې زيات شوی وي، اجازه ورکړې چې خپل پړونی يوې خوا ته کړي او په حجاب کې ورته تخفيف ورکړل شوی، خو بيا هم فرمايي چې که حجاب وکړي ورته غوره ده. دا په داسې حال کې ده چې له هغې څخه د فتنې او نکاح هيله نه کيږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا...﴾ [النور: ۶۰]. «او هغه زړې ښځې چې د نکاح هيله نه لري، پر هغوی ګناه نشته چې خپل (بهرني) کالي يوې خوا ته کړي، په داسې حال کې چې زينت نه ښکاره کوي. او که هغوی عفت غوره کړي (ځان پټ کړي) دا ورته غوره ده. او الله اوريدونکی او پوه دی.»
اووم دليل: له پردې تر شا خبرې کول
الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ﴾ [الأحزاب: ۵۳].

«او کله چې تاسو له هغوی (د پيغمبر له مېرمنو) څخه د کور کوم شی غواړئ، نو له پردې تر شا يې ترې غواړئ؛ دا ستاسو د زړونو او د هغوی د زړونو د پاکوالي لپاره غوره لاره ده.»

ketabton.com - The Digital Library



دا ايت د مخ پټولو په حکم کې صريح نص دی. کله چې صحابه کرامو ته امر کيږي چې له امهات المؤمنين (او نورو مؤمنو ښځو) سره له پردې تر شا خبرې وکړي ترڅو د زړونو پاکوالی خوندي پاتې شي، نو دا په دې دلالت کوي چې ليدل په زړه اغېز کوي. کله چې سړی د ضرورت په وخت کې د پردې تر شا خبرې کوي، شيطان ته د ننوتلو لاره نه پاتې کيږي.

اتم دليل: په کورونو کې پاتې کېدل او د جاهليت له ننداريې ډډه کول:

﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى﴾ [الأحزاب: ٣٣]. «او په خپلو کورونو کې پاتې شئ او د پخواني جاهليت په څېر ځانونه مه ننداريې ته وړاندې کوئ.»

الله تعالی مؤمني ښځې له دې منعه کړې چې له کوره د وتلو پر مهال ځانونه سينګار کړي او بې ځايه په بازارونو کې وګرځي. په اصيلي عربي ټولنه کې چې سړي ډېر غيرتي وو، که چا د هغوی مېرمنو ته په بده سترګه کتلي وای، لويې جګړې به رامنځته کېدې. ايا تاسو فکر کوئ چې په هغه سخته او غيرتي ټولنه کې به ښځو خپل بدن، متې يا ويښتان ښکاره کړي وای؟ نه، يوازې مخونه يې ښکاره وو (او کله ناکله لږ ويښتان)، چې الله تعالی له هغې هم منعه کړې او ورته يې ويلي چې د جاهليت د ښځو په څېر يې مه کوئ.

سارا په پوره پاملرنې سره کتاب لوست او اريج او مها به د هغې د خبرو په تاييد کې ويل: «ډېر ښه، سبحان الله، الحمدلله...» هغوی د الهي اوامرو په وړاندې تسليم وې. سارا متوجه شوه چې د اريج پام يو څه بل لور ته شو، نو په لوړ غږ يې ترې وپوښتل: «د دې خبرې مفهوم څه دی؟» اريج په خندا وويل: «استادې! مفهوم يې څه دی؟» سارا وخندل او ويې ويل: «راځئ چې بحث بشپړ کړو.»

نهم دليل: د احرام په حالت کې د صحابيه و حجاب:

دا ټولو ته معلومه ده چې ښځه د حج او عمرې په حالت کې (لکه د سړيو په څېر) خپل مخ نه پټوي، خو ستاسو د مور بي بي عايشې (رض) خبره واورئ: «موږ له رسول الله

ketabton.com - The Digital Library



ﷺ سره په احرام کې وو او حاجيان به پر اوښانو زموږ له څنګ څخه تېرېدل. کله به چې هغوی موږ ته رانږدې شـول، موږ به خپلې چادرياني پر مخونو راښـکته کړلې او مخونه به مو پټ کړل، او کله به چې هغوی تېر شول، بيا به مو مخونه ښکاره کړل.» [ابوداود] سره له دې چې په احرام کې د مخ پټول منع دي، خو صحابيه و ځکه پټول چې پوهېدې د نـــامـحـــرمـــو پـــه وړانـــدې د مـــخ پـــټـــول تـــر هـــر څـــه اړيـــن دي. لسم دليل: د حضرت اسماء (رض) روايت:

حضــــرت اســـماء بنت ابی بکر (رض) وايي: «موږ د احرام په حالت کې خپل مخونه پټول.» [ابن خزيمه او حاکم]

يوولسم دليل: د افک په کيسه کې د حجاب يادونه:

بي بي عايشـه (رض) د افک په مشـهوره کيسـه کې وايي کله چې زه له لښـکر څخه شـاته پاتې شــوم او هلته ناســته وم، خوب يوړم. کله چې حضــرت صــفوان بن معطل (رض) راغی او زه يې وليدم، ويې پېژندلم ځکه «هغه زه تر حجاب مخکې ليدلې وم». هغه چې کله "انا لله وانا اليه راجعون" وويل، زه له خوبه راويښـه شـوم او «سـمدسـتي مې په خپل ټيکري خپل مخ پټ کړ». دا ثابتوي چې تر حجاب وروسته د مخ پټول د هغوی عادت و. دولسم دليل: د سهار لمونځ او ناپېژندل شوې ښځې:

بي بي عايشه (رض) وايي: «مؤمنو ښځو به د رسول الله ﷺ تر شا د سهار لمونځ کاوه او کله به چې خپلو کورونو ته سـتنېدې، د چادرويو له امله به هيچا نه پېژندلې.» [بخاري او مسلم]

ديارلسم دليل: د پښو او مخ پټولو اهميت:

رســـول الله ﷺ وفرمايل: «څوک چې خپل کالي له کبره پر ځمکه راکاږي، الله ورتـه د قيامت په ورځ د رحمت په نظر نه ګوري.» حضرت ام سلمه (رض) وپوښتل: «نو ښځې به له خپلو لمنو سره څه کوي؟ (ځکه د هغوی لمنې اوږدې وې)» هغه ﷺ وفرمايل: «يوه لوېشـت دې يې لنډې کړي.» ام سـلمه (رض) وويل: «نو پښـې به يې ښـکاره شـي!» هغه

ketabton.com - The Digital Library



ﷺ وفرمـايـل: «نو نيم متر دې يې اوږدې کړي (چې پښـــې يې پټې وي).» [احمـد] فکر وکړئ! کله چې د پښـو ښــکاره کول فتنه وي، نو د مخ ښــکاره کول به څومره لويه فتنه وي؟

څوارلسم دليل: په احرام کې د نقاب منع کول:

رســـول الله ﷺ وفرمايل: «ښـــځه دې په احرام کې نقاب نه تړي او دســـتکشـــې دې نه اغوندي.» [بخاري]

دا پخپله ثابتوي چې په عادي حالت کې د هغوی عادت د نقاب تړل او د لاسونو پټول وو، ځکه نو په احرام کې ترې منعه شوې.

پنځلسم دليل: د بلې ښځې صفتونه بيانول:

رسـول الله ﷺ منعه کړې چې يوه ښـځه دې د بلې ښـځې بدني صـفتونه خپل مېړه ته داسـې نـه بيـانوي چې ګواکې مېړه يې ورتـه ګوري. کـه ښـــځې پـه بـازارونو کې بې پردې ګرځېدلای، نو مېړه ته د صــفتونو بيانولو ته اړتيا نه وه، ځکه مېړه به پخپله په بازار کې ليدلې وای.

شپاړسم دليل: د حضرت مغيره بن شعبه (رض) د مرکې کيسه:

حضـرت مغيره (رض) وايي چې ما له يوې نجلۍ سره د مرکې اراده وکړه. رسول الله ﷺ راته وفرمايل: «ايا ليدلې دې ده؟» ومې ويل: نه. ويې فرمايل: «لاړ شــــه ويې ګوره.» هغه وايي زه يې کور ته ورغلم، نجلۍ په حجاب کې وه. کله چې مې هغوی ته د رســـول الله ﷺ امر ووايه، نجلۍ خپله د مخ پرده پورته کړه او ويې ويل: «که رســـول الله ﷺ امر کړی وي، نو وګوره.»

دا ثابتوي چې ښـــځې په حجاب کې وې او حتی د مرکې لپاره هم ليدل يو خاص اجازه غوښته.

د مها اوښکې او بدلون:

ketabton.com - The Digital Library



د حضـرت مغيره (رض) كيسـې پر مها داسـې اغېز وكړ چې بې اختياره يې په ژړا پيل وكړ. سـارا سـر پورتـه كړ او اريج لـه خپلې خور وپوښـتـل: «ولې ژاړې؟» مها خپلې اوښـكې پاكې كړې او په رېږدېدلي غږ يې وويل: «هيڅ نه... يوازې د خپل حال په اړه فكر كوم. الله دې پر موږ رحم وكړي. يوه صحابيه ښځه بل صحابي ته قسم وركوي چې زما مخ ته ونه ګورې مګر دا چې رسـول الله ﷺ اجازه دركړې وي، خو زه په تر ټولو ښكلو كاليو او زينت كې په بازارونو او روغتونونو كې ګرځم. هغه پاكه ښځه حاضـره نه وه چې يو صـحابي يې مخ وګوري، او زه داسـې زينتي چادرياني اغوندم چې خـداى خـبـر څـومـره خـلـک مـې نـنـداره كـوي او هـيـڅ حـيـا نـه كـوم!» مها په پوره ډول بدله شوې وه. هغې په خپل ذهن كې د هغو سړيو سترګې انځورولې چې دې ته به يې كتل. په دې وخت كې يې له شـرمه په خپلو لاسـونو خپل مخ پټ كړ. سـارا مها ارامه كړه، له پاملرنې يې مننه وكړه او ويې ويل: «خورې مها! الله تاته دومره ډېر نعمتونه دركړي چې ښايي د هغه پيروي وكړې. تر هر څه لومړى حجاب او په نېكو كارونو كې مخكې كېدل دي. د الله شكر ادا كړه چې تاته يې روغتيا، سترګې او غوږونه دركړي، ترڅو الله درسـره مينه وكړي او نېكمرغه خـاتمـه دې پـه برخـه شـي.» سارا يوه كيسه ورته تېره كړه: «د يوې ښځې كيسه مې راياده شوه چې ۵۰ كاله ګونګى وه او خبرې يې نه شـواى كولاى، خو ډېره صـالحه ښـځه وه؛ تل به يې روژې نيولې او شپې به يې په لمانځه تېرولې. مېړه يې هېڅكله د هغې غږ نه و اورېدلى. يوه شپه ښځه په لمانځه ولاړه وه چې ناڅاپه يې غږ پورته شو. مېړه يې په حيرانتيا راويښ شـو، غوږونه يې ونيول؛ هغه خپله مېرمن وليده چې له خپل رب سره په مناجاتو بوخته ده، كلمه شهادت يې په لوړ او صـريح غږ ويله، په ژړا او زاريو يې دعا وكړه او په هماغه ځاى يې سـاه وركـړه. ايـا تـاسـو داسـې خـاتـمـه نـه غـواړئ؟» دواړه خويندې له دې كيسـې ډېرې اغېزمنې شـوې او يو څه وخت چوپتيا خپره شـوه. بيا اريـج سـارا تـه وكـتـل او ويـې ويـل: «ښـه سـارا، دوام وركـړه.» اوولسـم دلـيـل: د مـركـې لـپـاره ځـان پـتـول حضـرت جابر بن عبدالله (رض) وايي: له رسـول الله ﷺ څخه مې واورېدل: «كله چې

ketabton.com - The Digital Library



ستاسو ښځه ځوک د يوې نجلۍ مرکې ته لاړ شي او وکولای شي هغه څه وګوري چې ده ته مهم دي (او واده ته يې هڅوي)، نو دا کار دې وکړي.»

حضرت جابر (رض) وايي: «ما د بني سلمه له يوې نجلۍ سره د مرکې اراده وکړه، نو زه د خرما د ونې تر شا پټ شوم ترڅو مې هغه ولیده او خوښه مې شوه، بيا مې واده ورسره وکړ.»

فکر وکړئ! که دې نجلۍ په عام محضر کې مخ ښکاره کاوه، نو جابر (رض) اړ نه و چې د ونې تر شا پټ شي.

سارا په ټوکه مها ته وويل: «لکه د تېر ځل غوندې ونه کړې، که دې زړل نو بهر لاړه شه!» اريج په خندا وويل: «ښه ده استادې، دوام ورکړه.»
اتلسم دليل: د حضرت فاطمې (رض) ناپېژندل:

عبدالله بن عمرو بن عاص (رض) وايي: موږ له رسول الله ﷺ سره يو مړی خاورو ته وسپارلو. د بېرته راګرځېدو پر مهال مو د يو کور مخې ته يوه ښځه وليده چې ومو نه پېژندله. رسول الله ﷺ هغې ته متوجه شو او ويې فرمايل: «ای فاطمې! له کومه ځايه راغلې؟» هغې وويل: «د فلاني مړ شوي د کورنۍ له کوره راغلم، د تسليت لپاره هلته تللې وم.» [احمد او حاكم]

صحابه کرامو ځکه نه وه پېژندلې چې ټول بدن يې پټ و، خو رسول الله ﷺ خپله لور د هغې له تګ او اندام څخه وپېژندله. که مخ يې ښکاره وای، هغوی به نه ويل چې «موږ ونه پېژندله».

نولسم دليل: د انصاري نجونو د سترګو ليدل:

امام مسلم روايت کوي چې يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل چې غواړي له يوې انصاري نجلۍ سره واده وکړي. هغه ﷺ وفرمايل: «ايا ليدلې دې ده؟» سړي وويل: نه. هغه ﷺ وفرمايل: «لاړ شه ويې ګوره؛ ځکه د انصارو په سترګو کې يو ډول کږوالی (خاص صفت) وي.»

ketabton.com - The Digital Library



دلته اريج خبره ور پرې کړه: «شــــايد مقصـــــد يې دا و چې له مخ پرته نور ځايونه يې وګوري؟» ســـارا وويل: «نه، پيغمبر ﷺ ورته وويل چې ســترګو ته يې وګوره. ســترګې چېرته دي؟ په وېښــتانو کې که په غاړه کې؟ نه، ســترګې په مخ کې دي. نو هغه ﷺ ورته امـر وکـړ چـې د نـجـلـۍ لـه کـورنـۍ اجـازه واخـلـي او مـخ يـې وګـوري.»
شلم دليل: عقلي دليل:

هر منصـف انسـان پوهيږي چې دا له عقل څخه لرې ده چې شـريعت دې ښـځې ته اجازه ورکړي چې مخ ښکاره کړي؛ ځکه د ښځې ټوله ښکلا په مخ کې ده. د مخ ليدل د شهوت د پــــارېــــدو او تــــولــــنــــيــــز فســــاد ســــبــــب کــــيــــږي.
سارا له کتاب څخه سر پورته کړ او ويې ويل: «د ليکوال دليلونه پای ته ورسېدل. زه نه پوهېږم مسلماني ښـځې ته څنګه ووايم چې لاسـونه، غاړه، سـر او پښـې پټې کړه خو مخ دې ښـکاره کړه؟ په داسـې حال کې چې د شـونډو نازکي، د باړخوګانو رنګ او د سترګو جادو ټول په مخ کې دي! ايا دا ممکنه ده چې يو سړی د ښـځې د پښـو په ليدو په فتنه کې راشــــي، خو د مخ پـه ليـدو يې هيڅ هم ونـه شـــي؟ دا د حيرانتيـا خبره نـده!!!.»
اريج د سارا خبره تاييد کړه: «رښتيا وايې. سارا! باور وکړه مها شاهده ده، زه که څه هم مناسـبه عبا اغوندم خو مخ مې ښــکاره وي. خو په صــراحت وايم: په بازار، روغتون يا موټر کې چې له هر ســـړي ســـره خبرې کوم، وينم يې چې زما مخ ته ځير وي، کله مې شــــونــډو تــه ګــوري او کــلــه پــه خــنــدا خــبــرې راســــره اوږدوي.»
مها د تاييد په ډول ســر وښــوراوه: «رښــتيا ده، رښــتيا ده. الله دې تاته هدايت وکړي.»
اريج په غوسه مها ته وويل: «رښتيا ده؟ الله دې ماته هدايت وکړي؟ که څوک ستا خبرې واوري نو ګومان به وکړي چې ته تر ما ډېره باحجابه يې! پاڅېږه په آينه کې ځان او خپل کــالــي وګــوره.» مــهــا خــفــه شــــوه او ويــې ويــل: «بــد نــيــت مــې نــه و.»
ســـارا چې وليدل د خويندو ترمنځ شـــخړه رامنځته شـــوه، هغوی يې ارامۍ ته راوبللې او ويې ويل: «ســتاســو نظر څه دی چې د څلورګونو امامانو (ابوحنيفه، مالک، شـــافعي او احمد) نظرونه هم په دې اړه ولولو؟ ترڅو د هغو خلکو خبرې ونه منو چې وايي امامانو د مـــــخ ښـــــکـــــاره کـــــول جـــــايـــــز بـــــلـــــلـــــي دي.»

ketabton.com - The Digital Library



اریج وویل: «ډېره ښــه ده.» ســـارا ۳۱مه پاڼه پرانیســـته او په لوســـتلو یې پیل وکړ.

## د حنفي مذهب د امامانو او فقهاوو اقوال:

د حنفي مذهب فقهاء په دې باور دي چې ښځې ته جایزه نه ده چې د پردیو سړیو په وړاندې خپل مخ ښــکاره کړي، ځکه چې د مخ ښــکاره کول فتنه راپاروي. هغوی په خپلو فقهي کتابونو کې لیکلي چې مسلمانان په دې متفق دي چې ښځې ته په داسې حال کې سفر کول روا نـه دي چـې مـخ یـې ښـــکـاره وي. دلـتـه یـې ځـینـې فـتـواوې ذکـر کـوو:
* علامه ابوبکر جصـــاص (رح): چې د حنفي مذهب له ســـترو پوهانو دی، وایي: «پېر ځوانې ښـځې لازمه ده چې د پردیو سـړیو په وړاندې خپل مخ پټ کړي او له کوره د وتلو پر مهال حجاب او عفت مراعات کړي، ترڅو د هغې په لیدو فتنه رامنځته نه شي او بدنامه خلک هغې ته په تمه نه شي.» [۱]

* شـمس الائمة سـرخي (رح): وایي: «کتل ځکه حرام دي چې د فتنې وېره وي، او د فتنې وېره هغه وخت وي چې د ښـځې مخ ته وکتل شـــي، ځکه د انســـان ډېره ښـــکلا په مخ کې راټوله شوې ده.» [۲]

* ابن عابدین شـامي (رح): وایي: «له دې څخه مطلب دا دی چې ښـځه له مخ ښـکاره کولو منعه شـــوې، ترڅو ســـړي هغې ته ونه ګوري او په فتنه کې واقع نه شـــي؛ ځکه د مخ په ښـــکـاره کـولـو ســـره ډېـرې وخـت نـظـر پـه شـــهـوت ســـره وي.» [۳]
* او همدارنګه د احنافو له علماوو نقل شـوي چې حتی د احرام په حالت کې هم که نامحرم ســـړي ورســـره وي، د مـــخ پـــټـــول واجـــب دي. [۴]
* مفتي اعظم پاکســـتان، علامـه مفتي محمد شـــفیع دیوبندي (رح): وایي: «څلور واړه مذهبونه او د امت جمهور په دې متفق دي چې ځوانو ښـــځو ته جایز نه ده چې د نامحرمو په وړاندې خپل مخ او لاسونه ښکاره کړي؛ یوازې ډېرې زړې ښځې له دې حکمه مستثنی دي.»
د سارا له خوا د یوې عبرتمنې کیسې بیان:

ketabton.com - The Digital Library



سارا د لوستلو په منځ کې ودرېده او ويې ويل: «مخکې له دې چې د نورو مذهبونو نظرونه ووايم، د حنفي فقهاوو دې خبرې مې پام ځانته را واړوه بې حجابي د بدنيته خلکو طمع زياتوي. يوه کيسه درته کوم:»
«يو سړی د کار لپاره سفر ته لاړ او خپله ښځه او ماشومان يې په کور کې پرېښودل او خپل مشر ورور ته يې وصيت وکړ چې د دوی پام ساته. دې ښځې ويل: زما د مېړه مشر ورور به نږدې هره ورځ راتلو، ځکه موږ ورته د خپلې کورنۍ د غړي په څېر کتل. ما ترې حجاب نه کاوه، مخ او کله ناکله به مې وېښتان هم ورته ښکاره وو. په لومړيو کې هغه محتاط و، خو چې تګ راتګ يې زيات شو، خبره يې نرمو او عاطفي جملو او ټوکو ته ورسېده. کله چې مې مېړه له سفره راغی، ما ورته د جنجال له وېرې څه ونه ويل.»
«مېړه مې بيا سفر ته لاړ، لېور مې بيا هماغه حرکتونه پيل کړل او دا ځل يې په ښکاره راسره جنجال کاوه. زه ډېره تنګه شوم او پرېکړه مې وکړه چې په مخ کې يې پوره شرعي حجاب وکړم. خپل مېړه ته مې ليک ولېږه چې نور نه غواړم له نامحرمو سره کښېنم او غواړم پوره حجاب وکړم. مېړه مې ډېره وهڅولم. سبا چې مې لېور راغی او زه يې په پوره حجاب او پرده کې وليدم، ډېر حيران شو او ويې ويل: دا څه مانا؟ ومې ويل: له نن څخه مې له نامحرمو سره تګ راتګ ختم دی. هغه داسې ودرېد لکه چا چې په سر وهلی وي. بيا مې ورته وويل: که څه شی درته پکار و، له پردې تر شا يې غواړه. له هغه وروسته الله زه د هغه له شره وساتلم.»
اريج په حيرانتيا وويل: «سبحان الله! الله ربښتيا فرمايلي: ﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ...﴾ دا د زړونو د پاکوالي لپاره تر ټولو غوره لاره ده.»

## د مالکي مذهب د امامانو اقوال:

د مالکي مذهب فقهاء هم په دې باور دي چې ښځې ته جايز نه ده چې خپل مخ د نامحرمو په وړاندې ښکاره کړي ځکه چې فتنه جوړوي.
* قاضي ابوبکر بن عربي او امام قرطبي (رح): وايي: «ښځې ته جايز نه ده چې بې له ضرورته خپل مخ ښکاره کړي، مګر دا چې ډېره سخته اړتيا وي لکه د شاهدۍ ورکولو پر

ketabton.com - The Digital Library



مــــهـــال يـــا ډاکـــتـــر تـــه د تـــګ پـــه وخـــت کـــې.» [۶]
* امام ابن عبدالبر مـاليکي (رح): د ښـــځې د مخ پر پټولو بـاندې د علمـاوو اجمـاع (ټوليز اتفاق) ذکر کړی دی.

* امام آبي ماليکي (رح): وايي: «په مالکي مذهب کې مشهوره خبره دا ده چې د فتنې د وېرې په وخت کې د مخ او دواړو لاسونو پټول واجب دي.» [۷]

[۱]- احکام القرآن جصاص، ۴۵۸/۳.
[۲]- مبسوط سرخسی، ۱۵۲/۱۰.
[۳]- حاشيه بن عابدين، ۴۸۸/۲.
[۴]- حاشيه بن عابدين، ۲۷۲/۱.
[۶]- احکام القرآن (۱۵۷۸/۳) او الجامع لاحکام القرآن (۲۷۷/۱۴).
[۷]- جواهر الاکليل، ۱۴/۱.

## د شافعي مذهب د امامانو اقوال:

د شـافعي مذهب امامان د نامحرمو سړيو په وړاندې د مخ ښـکاره کول جايز نه بولي، که د فتنې وېره وي او يـا نـه وي؛ ځکـه د مخ ښــــکـاره کول پخپلـه د فتنې لامـل ګرځي.
* امام الحرمين علامه جويني شـافعي (رح): وايي: «د مسلمانانو علماوو پر دې فتوا اتفاق کړی چې مســلمانه ښــځه بايد له مخ پټولو پرته له کوره ونه وځي؛ ځکه د نامحرم نظر د ښځې مخ ته د فتنې او فساد لامل کېږي.» [۱]

* ابن رسلان شـافعي (رح): وايي: «علماء پر دې متفق دي چې ښځې دې بې له حجاب او د مخ له پټولو له کوره نه وځي، په ځانګړي ډول هغه وخت چې فاسـقان او هوسـبازان په بازارونو کې ګرځي.» [۲]

* امام موزعي شـافعي (رح): وايي: «له پخوا زمـانې راهيسـې په ټولو اسلامي ښـارونو او هېوادونو کې د خلکو تعامل داســې پاتې شــوی چې زړې ښــځې ته په حجاب کې تخفيف ورکول کيږي، خو ځوانې ښـځې ته دا اجازه نشـته. زه ګومان نه کوم چې کوم عالم دې د ځوانې مسـلمانې ښـځې لپاره بې له ضـرورته د مخ ښـکاره کولو فتوا ورکړې وي.» [۳]

## د امام احمد بن حنبل د مذهب د امامانو اقوال:

ketabton.com - The Digital Library



د حنبلي مذهب فقهاء هم د نامحرمو په وړاندې د ښځې د مخ ښکاره کول روا نه بولي.
* امام احمد (رح): فرمايلي دي: «کله چې ښځه غواړي له خپل کور څخه بهر ووځي، بايد د بدن هېڅ برخه يې ښکاره نه شي.» [۵]

## د بحث پايله (نتيجه):

د جمهور علماوو نظر دا دی چې د مخ ښکاره کول حرام دي. دلته د امت د هغو علماوو اجماع ذکر کوو چې پر خبره يې تکيه کيږي:
۱. امام ابن عبدالبر مالکي (لويديځ عالم): وايي چې د اسلام علماء پر دې متفق دي چې پر ښځه واجب ده خپل مخ پټ کړي، په ځانګړي ډول د فتنې په وخت کې.
۲. امام نووي شافعي (ختيځ عالم): همدا نظر په صراحت سره بيانوي.
۳. امام ابن تيميه (له حنابله و څخه): هم پر همدې نظر دی.
۴. علامه سهارنپوري او شيخ محمد شفيع عثماني (له احنافو څخه): دواړه د امت پر دې اجماع تينګار کوي چې د مخ پټول واجب دي.
ايا د دې ټولو معتبرو اقوالو وروسته بيا هم کوم بل دليل او حجت پاتې کيږي؟ په يقين سره چې د امامانو خبرې قانع کوونکې دي.

د اريج شکونه او د سارا ځوابونه:

مها خپلې عبا (چادري) ته کتل او په ذهن کې يې يو څه ثابتول، خو داسې ښکارېده چې اريج په ذهن کې يوه پېچلې پوښتنه لري. هغې سارا ته وکتل او ويې ويل: «سارا! زه ستا خبرې منم، خو په ځينو ليکنو کې مې دوه شکونه (شبهې) لوستي دي:
۱. دا چې يوازې د سعودي عربستان علماء د مخ پر پټولو فتوا ورکوي او د نړۍ نور علماء دا نظر نه لري.
۲. دا چې د مخ پټول يوازې يو دود او رواج دی او د دين برخه نه ده.
سارا! ښه غواړم، ستا دلايل چې له قرآن او سنتو څخه دې وويل ډېر قوي او روښانه وو، خو غواړم پوه شم چې ايا د سعودي له علماوو پرته د نورې نړۍ علماوو هم دا فتوا ورکړې ده که نه؟»

ketabton.com - The Digital Library



سارا په خندا شوه، د اريج له جرات او لېوالتيا څخه حيرانه شوه او ويې ويل: «ما لږ مخکې درته لړليک ولوست، هلته يو مطلب و چې سرليک يې و: "د مخ پټولو د وجوب په اړه د نړۍ د اسلامي علماوو اقوال". راځئ چې ۳۱مه پاڼه پرانيزو او ويې لولو.»

[۱]- روضة الطالبين ۲۴/۷.

[۲]- عون المعبود ۱۶۲/۱۱.

[۳]- تيسير البيان لاحکام القران ۱۰۰۱/۲.

[۵]- فروع ۶۰۱/۱.

## د اسلامي نړۍ د مشهورو علماوو اقوال:

۱. شيخ امير صنعاني (يمني): په خپل کتاب کې يې د هغو کسانو خبره په کلکه رد کړې چې د مخ ښکاره کول جايز بولي.

۲. شـيخ ابوالاعلى مودودي (پاکسـتاني): هغه د "حجاب" په نوم کتاب لري او وايي: «د رسول الله ﷺ په زمانه کې د خلکو عمل دا و چې د ښځې د مخ پټولو په اړه يې هېڅ انکار نـه کـاوه او دا تـعـامـل تـر نـن زمـانـې پـورې روان دی.»

۳. شيخ محمد علي صابوني (سوريايي مفسر): هغه وايي چې د مخ ښکاره کولو بدعت په اوسنۍ زمانه کې پيدا شوی. هغه وايي: «زه نه پوهېږم چې دا خلک څنګه په داسې ټولنه کې چې د شـهوت اورونه پکې بل دي، ښـځې د مخ ښـکاره کولو او ښـکلا نندارې ته رابولي؟»

۴ شـيخ ابوبکر جزائري (الجزايري): په خپل کتاب "فصـل الخطاب" کې يې د مخ پټولو دلـيـلـونـه ذکـر کـړي او د مـخـالـفـيـنـو شـبـهـې يـې رد کـړې دي.

۵. علامه محمد امين شنقيطي (موريتانيايي): په خپل مشـهور تفسير "أضـواء البيان" کې يـې د مـخ پـتـولـو پـه اړه خـورا قـوي دلـيـلـونـه راوړي دي.

۶. شيخ مصـطفى صـبري (ترکيه): هغه چې د عثماني خلافت وروستی مفتي و، په خپلو ليکنو کې يې پر هغو کسـانو سـختې نيوکې کړې چې د مخ ښـکاره کولو ته بلنه ورکوي.

۷. شيخ عبدالرشيد سخي (نايجيريا): هغه دا خبره ردوي چې حجاب يوازې يو رواج دی، بلکې هغـه يې د شـريعـت لـه اړتيـاوو څخـه بولي او د مخ پټول واجـب ګڼي.

ketabton.com - The Digital Library



۸. مصری عالمې (اعتصام احمد الصراف او يسريه محمد انور): دوی ليکي چې د مخ پټول د حجاب اساس دی. کله چې اسلام د سينګار غړ فتنه بولي، نو د مخ ښکاره کول چې د ټولې ښکلا مرکز دی، خو په لومړی درجه کې واجب دي.
۹. ډاکټر محمد سعيد رمضان بوطي (سوريايي): هغه وايي چې فقهاء متفق دي چې د فتنې په وخت کې د مخ پټول واجب دي. بيا پوښتنه کوي: «ايا په ننني زمانه کې څوک ادعا کولای شي چې فتنه نشته او څوک د ښځو مخونو ته په شهوت نه ګوري؟»
د اريج قانع کېدل او قاطع پرېکړه:

اريج چې کله د مصر، شام، يمن، ترکيې، پاکستان او موريتانيا د علماوو دا ټول نظرونه واورېدل، ويې ويل: «نور نو د دې خبرې د ردولو اړتيا نشته چې څوک وايي دا يوازې د عربو رواج دی. کله چې د ټولې نړی علماء پرې متفق دي، نو دا شرعي حکم دی.»
سارا فرصت غنيمت وګانه او ويې ويل: «خويندو! قوي انسانان هغه دي چې د بدلون لپاره جدي پرېکړه وکړي. ډېرې خويندې شته چې زړه کې يې ارمان وي حجاب وکړي، خو نن او سبا کوي او کلونه تېر شي.»
بيا يې دا ايت تلاوت کړ: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ...﴾ [الأحزاب: ۳۶].

«او هېڅ مؤمن سړي او مؤمنې ښځې ته دا حق نشته چې کله الله او د هغه رسول په يوه کار کې پرېکړه وکړي، دوی بيا په خپل کار کې اختيار ولري. او څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي، هغه په ښکاره ګمراهی کې ولوېد.»
سارا زياته کړه: «حجاب د ځانښت د نفل لمانځه غوندې نه دی چې زړه دې شو ويې کړه او چې زړه دې نه وه مه يې کوه؛ بلکې دا الهي فرض دی او په اړه به يې پوښتنه کيږي.»

د بلوچستان د علماوو يادونه (د ژباړن زياتونه)

په بلوچستان کې هم (لکه زاهدان، خاش، سراوان، ايرانشهر، چابهار او نورو سيمو کې) د سترو علماوو لکه مولانا عبدالحميد، مولانا محمد عمر سربازي او مولانا محمد يوسف

ketabton.com - The Digital Library



حسين پور نظر همدا دی. په ټولو ديني مدرسو کې تدريس له پردې تر شا کيږي او دا د سيمې د خلکو لپاره د وياړ ځای دی چې خپل کلتور او ديني وقار يې ساتلی دی. ناخوړلې مېوې په پوټکي کې پټې دي، توره په تېکي (غلاف) کې ده، قلم چې کله سر خلاص وي رنګ يې وچيږي او بې ګټې کيږي.

دې ټکي ته پام وکړئ! ولې د ښوونځي زده کوونکي خپل کتابونه او کتابچې په پوښونو (جلدونو) پوښي؟ ايا د دې لپاره نه چې خوندي پاتې شي؟ ښځه د يو ښکلي ګل په څېر ده چې هر څوک يې په ليدو د شلولو هيله کوي، نو اړينه ده چې په حجاب او پوښښ سره يې وساتو. که د مېوې پوټکی لرې شي او همداسې پرېښودل شي، فاسديږي. يو کيله په نظر کې ونيسئ، که پوټکی يې لرې کړئ، توره او خرابه کيږي. د انسان سترګې ته وګورئ، له دې امله چې ډېرې ارزښتمنې دي، په(پوښ) کې ساتل شوې دي. ډېره ښه، اوس پرېکړه وکړئ او په حجاب شئ؛ ځکه ټوله هستي په حجاب او چادري کې ده.

مها له دې خبرو ډېره اغېزمنه شوه او د هغې امريکايی نجلی کيسه يې ور ياده شوه چې څو ورځې وړاندې يې په انټرنيټ کې لوستې وه. مها دوام ورکړ: «په خدای قسم چې حجاب د ښځې د عزت او شرافت وسيله ده. څومره ډېر کافران د حجاب له امله اسلام ته راغلي دي!»

سارا په حيرانتيا وويل: «د حجاب له امله اسلام ته راغلي؟ څنګه؟!» مها وويل: «هو، ما په يو سايټ کې ولوستل چې يوې نجلی د خپل حجاب د ساتلو له امله د ۷ کسانو د مسلمانېدو سبب شوه. هغه يوه امريکايی محصله وه چې په خپل دين يې وياړ کاوه او د هغې په برکت ۳ ډاکټران او ۴ محصلين مسلمان شول.» يو له هغو ډاکټرانو چې مسلمان شوی و، داسې کيسه کوي: «څلور کاله وړاندې په پوهنتون کې زموږ د يوې مسلمانې محصلې له امله ستونزه پېښه شوه. هغې په خپل حجاب ډېر ټينګار کاوه، خو يو استاد يې ورسره کينه لرله او غوښتل يې غچ ترې واخلي. نجلی ډېرې سختی وګاللې او بالاخره يې د پوهنتون رئيس ته شکايت وکړ. پوهنتون

ketabton.com - The Digital Library



پرېکړه وکړه چې د دواړو لوریو ترمنځ یوه ناسته جوړه کړي ترڅو د مسلمانې نجلۍ او استاد خبرې واوري.»

په غونډه کې ډېری استادان د مناظرې لپاره راټول شول. د نجلۍ اعتراض دا و چې استاد له اسلام سره شخصي کینه لري او پر دې ظلم کوي. ډېری غیرمسلمانو محصلینو هم د هغې ننګه کوله. استاد کوم منطقي ځواب نه درلود، اعصاب یې خراب شول او په اسلام یې بد رد پیل کړل. مسلمانه نجلۍ راپاڅېده او په ایماني غیرت یې د خپل دین دفاع وکړه، د اسلام ښېګڼې یې بیان کړې او په داسې انداز یې خبرې وکړې چې ټول یې ځان ته جذب کړل.

کله چې استاد ولید چې مجلس په یو اسلامي کنفرانس بدل شو، په غوسه له پوهنتونه ووت، خو نجلۍ هملته ناسته وه او د خلکو پوښتنو ته یې ځوابونه ورکول. بیا یې له خپل بکس څخه دوه پاڼې راوویستلې چې پرې لیکلي وو: «اسلام یعني څه؟». د دې نجلۍ د حجاب کیسه په پوهنتون کې ډېره مشهوره شوه او څو میاشتې وروسته ۳ استادان او ۴ محصلین مسلمان شول.

سارا او اریج له دې کیسې ډېره ګټه واخیسته. د اریج په ذهن کې ډېرې پوښتنې وې، په ځانګړي ډول کله چې سارا ځوابونه ورکول.

د مانۍ ملکه څوک لیدلی شي؟

اریج وویل: «زه د چا په وړاندې خپل مخ ښکاره کولای شم او سینګار مې ورته ښکاره کولای شم؟»

سارا: «ستا د محرمو کسانو په وړاندې؛ هغه کسان چې ستا نکاح ورسره نه کیږي او ۱۲ ډلې دي چې الله تعالی په سورت نور کې ذکر کړي دي: ۱. مېړه، ۲. پلار، ۳. خسر، ۴. خپل یا رضاعي زامن، ۵. د مېړه زامن (مېړه چې له بلې ښځې ولري)، ۶. ورونه (که سکه وي که ناسکه)، ۷. د ورور زامن، ۸. د خور زامن، ۹.

ketabton.com - The Digital Library



غلام (مملوک)، ۱۰. هغه سړي چې شهوت نه لري، ۱۱. نا بالغ ماشومان، ۱۲. عامې ښځې.»

مها او اریج په پوره پاملرنه سارا ته غوږ نیولی و او د الله حکم ته تسلیم شول. اریج خپل ټیکری (پړونی) په مخ برابر کړ او غوښتل یې په هغه خپل مخ پټ کړي او ویې ویل: «ای زما مخه! له نن وروسته به دې بې له محرمو بل څوک ونه ویني.» اه! د الهي حکم اطاعت څومره ښکلی دی. لمر ډوب شو او د ماښام اذان وشو. نجونو نږدې ۳ ساعته بحث کړی و. د نندارتون وخت په ختمېدو و او د دریو ملګرو د بېلېدو وخت هم نږدې و، خو په کتاب کې یو مهم فصل پاتې و.

سارا وویل: «تاسو د تګ بیړه لرئ؟ په دې کتاب کې یو مهم فصل پاتې دی چې په هغه کې د هغو خلکو دلیلونه رد شوي چې د مخ ښکاره کول جایز بولي. غواړم هغه هم درته ولولم ترڅو که سبا چا بحث درته وکړ، ځواب ولرئ. څه وایاست؟» اریج وویل: «ډېره عالي ده، خو د ماښام له لمانځه وروسته.» نجونې راپاڅېدې او ماښام لمونځ یې په پوره ډاډ سره وکړ. له لمانځه وروسته سارا خپل پلار ته زنګ وواهه چې یو څه ناوخته پسې راشي. بیا خپلو ملګرو ته ورغله، د کتاب ۴۶مه پاڼه یې پرانیسته او په لوستلو یې پیل وکړ.

لومړی دلیل: د "سفعاء الخدین" (تورو بارخوګانو لرونکې) ښځې حدیث دوی په هغه حدیث استدلال کوي چې حضرت جابر (رض) روایت کړی: رسول الله ﷺ د اختر په ورځ ښځو ته وعظ وکړ او صدقې ته یې وهڅولې. جابر (رض) وایي: په دې وخت کې یوه ښځه راپاڅېده چې پر بارخوګانو یې تورې لکې (سیاهي) وه او ویې ویل: ای د الله رسوله! ولې موږ ډېرې د جهنم خوراک یو؟ د دوی استدلال: جابر (رض) څنګه پوه شو چې د هغې بارخوګان تور دي؟ معلومه ده چې مخ یې ښکاره و.

ketabton.com - The Digital Library



ځواب:

1. دا کيسه پنځو نورو سترو صحابه کرامو (ابن عباس، ابن مسعود، ابوهريره، ابن عمر او ابوسعيد خدري) هم روايت کړې ده، خو يو هم د هغې د مخ صفت نه دی کړی. يوازې جابر (رض) دا صفت ذکر کړی.
۲. ښايي جابر (رض) دا ښځه تر حجاب وړاندې پيژندله، يا شايد دا د هغې يو مشهور لقب وه.

2. ابن مسعود (رض) وايي: «يوه ښځه راپاڅېده»، ابن عمر (رض) وايي: «يوه جګپوړې او غښتلې ښځه راپاڅېده». دا ښيي چې هغوی د هغې اندام او جوسه له چادري ليدله، نه مخ.

3. ابن عباس (رض) صريح وايي: «په هغه ورځ چا نه پيژندله چې دا ښځه څوک ده». که مخ يې ښکاره وای، نو پېژندلې به مو وه.
۵. ښايي دا به يوه ډېره زړه ښځه وه (چې حجاب ورته معاف دي) او يا هم مريۍ (کنيزه) وه، ځکه پر هغوی د مخ پټول واجب نه وو.
۶. دا پېښه ښايي د حجاب تر فرضيت وړاندې وي، ځکه حجاب په ۵م هجري کال فرض شو او د اختر لمونځ په ۲يم هجري کال پيل شوی و.
دويم دليل: د خثعمي نجلۍ کيسه:

ابن عباس (رض) روايت کوي چې د حج په ورځ فضل بن عباس (رض) د رسول الله ﷺ تر شا پر اوښ ناست و. فضل يو ښکلی ځوان و. د خثعم قبيلې يوه ډېره سپينه او ښکلې نجلۍ راغله چې پوښتنه وکړي. فضل هغې ته کتل او نجلۍ هم ورکتل. رسول الله ﷺ چې دا وليدل، د فضل غاړه يې ونيوله او مخ يې بل لور ته واړاوه.

ځواب:

۱. په حديث کې د "وضيئة" ټکی راغلی چې مانا يې "سپينه او تازه" ده. د انسان د پوستکي سپينوالی د لاسونو او پښو له ليدو هم معلومېدای شي، ضرور نه ده چې مخ يې ښکاره وي.

ketabton.com - The Digital Library



۲. که فرض کړو مخ يې ښــــکاره و، نو دا د حج او احرام حالت و چې هلته د مخ ښــکاره کولو اجازه وه، خو بيا هم رســول الله ﷺ اجازه ورنکړه چې فضــل ورته وګـــوري او مـــخ يـــې بـــل لـــور تـــه پـــرې واړاوه.
۳. په بل روايت کې راغلي چې کله عباس (رض) وپوښتل: اى د الله رسوله! ولې دې د فضــل غاړه واړوله؟ هغه ﷺ وفرمايل: «ما يو ځوان ســړى او ځوانه ښــځه ولــيــدل، نــو لــه شـــــيـطــان څـخــه مــې پــرې ډاډ نــه درلــود.»
۴. دا پخپله د حجاب پر وجوب دليل دى؛ ځکه که د حج په مبارک ســـفر کې، د رســــول الله ﷺ په شــــتون کې د يوې "احرام لرونکې" نجلۍ ليدل فتنه وي، نو په بازارونو او شرکتونو کې د ارايش شوې ښځې ليدل به څومره لويه فتنه وي؟

د اريج پنځم ځواب (عقلي ځواب):

کلـه چې ســــارا چوپ شـــوه، اريج پـه ډېر جديت وويـل: «زه يو پنځم ځواب هم لرم!» د اريج ځواب: «فضل (رض) او هغه نجلۍ دواړه په احرام کې وو، ستړي وو، خولې پرې راماتې وې، هيڅ ډول سينګار يې نه درلود او د الله په عبادت بوخت وو. د هغه سترګې هم د رســول الله ﷺ پر مبارک لاس کې وې. که په داســـې يو مقدس حالت کې رســـول الله ﷺ اجازه نه ورکوي چې يو سړى د نجلۍ مخ ته وګوري، نو د هغو خلکو حال به څه وي چې وايي: په بازارونو، روغتونونو او الوتکو کې له نامحرمو همکارانو ته د مخ ښـــکاره کول بـاک نـه لري؟! ايا هلتـه شــيطـان نشـــتـه؟ ايا هلتـه ســـترګې پـه شـــهوت نـه ډکيږي؟» مها په لوړ غږ د هغې خبره تاييد کړه: «رښـتيا وايې، بيخي سـمه خبره ده!» مها دومره په جوش کې وه چې شـاوخوا ښـځو ورته وکتل، اريج په پېښـه ووهله چې «آرامه شـه، غږ دې ټـــيـــټ کـــړه، خـــو رښـــــتـــيـــا مـــې وويـــل!» ســـارا وخندل او ويې ويل: «ماشـــاءالله، اريج! الله دې علم نور هم زيات کړه. يوازې يو وروستى دليل پاتې دى، هغه هم ولولم؟»

اريج په تبسم وويل: «هو، بشپړ يې کړه چې ګټه ترې واخلو.»

ketabton.com - The Digital Library



دریـیـم دلـیـل: د حضـــــرت اســـــمـــاء (رض) او نــري لـــبـــاس حــدیــث ابوداود له حضرت خالد بن دریک څخه او هغه له بي بي عایشې (رض) څخه روایت کوي چې یوه ورځ حضرت اسماء بنت ابي بکر (رض) د هغې کور ته راغله په داسې حال کې چې نري کالي یې اغوستي وو. رسول الله ﷺ ترې مخ واړاوه او ویې فرمایل: «ای اسماء! کله چې ښځه بلوغ ته ورسیږي، مناسبه نه ده چې له دې (مخ او دواړو ورغوو) پرته یې نور بدن وکتل شي.»

ځواب:

دا حــدیــث ضـــعـیـف دی او اســـتـدلال پـرې ســـم نــه دی، ځـکـه:
۱. انقطاع: امام ابوداود پخپله وایي چې دا حدیث "مرسل" دی، ځکه خالد بن دریک بي بي عـــــایشـــــــه (رض) نـــــه ده لـــــــیــــــدلـــــــې.
۲. کمزوری راوي: په ســند کې یې "ســعید بن بشــیر" شــته چې د حدیثو پوهانو په نزد ضعیف دی.

۳. تدلیس: په راویانو کې یې قتاده او ولید بن مســلم شــته چې په حدیثو کې "مدلســین" دي (یــعــنــې د ســـنـــد پـــه بـــیـــان کـــې یـــې شـــک شـــتـــه).
ســـارا له کتابه ســـر پورته کړ او په خندا یې مها ته وویل: «زه یو ځلورم دلیل هم لرم؛ دا بیخي له عقل لرې ده چې حضرت اسماء (رض) چې له بي بي عایشې ۱۰ کاله مشره وه، د رسـول الله ﷺ کور ته په نري لباس کې راشـي! په داسـې حال کې چې حتی د جاهلیت په زمـــانـــه کـــې هـــم هـــغـــوی حـــجـــاب تـــه پـــام کـــاوه.»
سارا د جاهلیت د زماني د یو شاعر شعر ووایه چې د یوې ښځې صفت کوي: کله چې له هغې ناڅاپه پړونی ولوېد، هغې ســمدســتي په لاســونو خپل مخ پټ کړ ترڅو موږ یې ونه ګورو.

ketabton.com - The Digital Library



سارا زیاته کړه: «کله چې په جاهلیت کې د ښځې حیا داسې وه، نو په اسلام کې به څنګه وي؟»

## د بې حجابۍ کیسه (تاریخچه):

سارا د کتاب ۴۳مه پانه پرانیسته او په چټکۍ یې ولوستله: «مؤمنو ښځو د رسول الله ﷺ له زماني څخه د ۱۴مې هجري پېړۍ تر نیمايي پورې پوره حجاب کاوه. کله چې لویدیځ استعمار پر اسلامي خاورو یرغل وکړ، هڅه یې وکړه چې مسلمانان له خپلو ارزښتونو لیرې کړي. لومړنی هېواد چې بې حجابي پکې پیل شوه، مصر و. کله چې د مصر امیر محمد علي پاشا یو شمېر کسان فرانسې ته د زده کړو لپاره ولېږل، په هغوی کې "رفاعه طهطاوي" و چې له راستنېدو وروسته یې ښځې د مخ ښکاره کولو ته راوبللې. بیا یو عیسوي "مرقس فهمي" د "المرأة في الشرق" په نوم کتاب ولیکه او په حجاب یې برید وکړ. وروسته "احمد لطف السید" په پوهنتونونو کې د نجونو او هلکانو اختلاط (ګډون) رسمي کړ. "طه حسین" او "قاسم امین" په خپلو کتابونو کې د مسلماني ښځې د اروپايي کېدو تبلیغ وکړ. بالاخره د "هدی شعراوي" په مشرۍ د ښځو لومړنی لاریون د حجاب د لرې کولو لپاره په قاهره کې وشو.»

## د کیسې پای او عهد:

اریج او مها دواړه د سارا خبرو دومره اغېزمنې کړې وې چې په سترګو کې یې د پښېمانۍ او نوي هوډ اوښکې ښکارېدې. اریج خپل پړونی په مخ راکش کړ او ویې ویل: «سارا! نن زموږ لپاره د نوي ژوند پیل دی. نور به مې مخ بې له محرمو بل څوک ونه ویني.» سارا په خوښۍ هغوی دواړه په غېږ کې ونیول. لمر ډوب شوی و او د ماښام ارامي خپره وه. هغوی درې واړه د ننداړتون له تالار څخه په داسې حال کې ووتلې چې په زړونو کې یې د ایمان رڼا او په سرونو یې د حیا پوره حجاب و. د سارا پلار هم رارسېدلی و. هغوی یو بل ته د "خدا حافظ" ویلو پر ځای د "جنت کې د لیدو" وعده ور کړه.

ketabton.com - The Digital Library



## د بې حجابۍ د فتنې پیل:

ســـــارا دلتــه لــه خبـرو ودرېـده او ویـې ویـل: «اعـوذ بـالله، ســــبحـــان الله!» اریـــج وپـــوښـــــتـــل: «ووایــه، د هــغــوی لــومــړنـــۍ غــونــډه چــېــرتــه وه؟» سارا ځواب ورکړ: «په داسې ځای کې چې که نوم یې واخیستل شي، سمدستي به یوه شئ چې دا پلان د غیرمسلمانانو له خوا جوړ شوی و! واوره: په ۱۹۲۰ز کال کې د مصر په «مرقُصـــیه کلیســـا» کې د دې کار لپاره پروګرام جوړ شـــو او د عملي کېدو انتظار یې کاوه.»

اریج په حیرانتیا وویل: «دا ډېره د حیرانتیا خبره ده! یعنې د ټولنې د فاســـدولو او د مور، لور او مېرمنې د بې لارې کولو لپاره داسې منظم پلان جوړ شوی و؟ سارا هیله کوم مطلب پوره کړه.»

ســارا زیاته کړه: «هدی شـعراوي لومړنۍ مسـلمانه مصـري ښـځه وه چې دا بې شـرمانه جرات یې وکړ او نورې ښځې یې بې حجابۍ ته وهڅولې! افسوس پر داسـې زمانه! الله ته بــه څــه ځــواب ورکــوي؟ دا هــغــه تــراژیــدي ده چــې د انســــــان وجــدان دردوي.» «کله چې ســـعد زغلول له انګلســـتان څخه راغی، د هغه د هرکلي لپاره دوه خیمې لګول شوې وې؛ یوه د ښځو او بله د نارینه وو. کله چې هغه له الوتکې کوز شو، د سړیو د خیمې پر ځای د ښـــځو خیمې ته لاړ چې له باحجابه ښـــځو ډکه وه. کله چې هلته ورســـېد، هدی شـعراوي ورته مخکې شوه، سعد زغلول ورته لاس وغځاوه، هغې خپل مخ ښـکاره کړ او روغبړ یې ورســـــره وکړ. هدی شـــــعراوي په چکچکو پیل وکړ او نورو ښـــځو هم خپل حجابونه له مخونو لرې کړل. دا ټول یو مخکینی پلان و. خو رباني علماوو چوپتیا غوره نه کړه، بلکې د دې ناوړه حرکت پر ضـد یې کتابونه ولیکل او خلک یې ترې منعه کړل.» بله ورځ او د حجاب سوځول

«یوه بله ورځ د سـعد زغلول مېرمن صـفیې فهمي د هغو ښـځو په منځ کې چې د آزادۍ او ډیموکراســـۍ نارې یې وهلې، په قاهره کې خپل حجاب لرې کړ او تر پښـــو یې لاندې کړ.

ketabton.com - The Digital Library



نورو ښــځو هم همدا کار وکړ، اور يې بل کړ او خپلې چادريانې پکې وســوځولې.»
د نجات د کښتۍ ماتېدل

«د ۱۹۰۰ز کلونو په شاوخوا کې د «السفور» (بې حجابۍ) په نوم يوه مجله خپره شوه چې د ښـځې او سـړي د برابرۍ په نوم يې بې حجابۍ او ګډو ناسـتو (اختلاط) ته بلنه ورکوله. ورو ورو دا پېښې چې د مسلماني ښځې له هويت سره په ټکر کې وې، د "ښځو د آزادۍ" په نوم خپرې شوې. د سندرغاړو او لوبغاړو ستاينه پيل شوه او د مخ پټول "سختګيري" وګڼل شـوه، په داســې حال کې چې د مصــر په زر کلن اســلامي تاريخ کې بې حجابي يو ناپېژندل شوی شی و.»

د دې مطالبو په لوســتلو ســره د ســارا غږ رېږدېدلی و او په ســختۍ يې خپلې اوښــکې کنټرولولې. هغې په ذهن کې دا انځورولو چې د صـــحابه کرامو لمســيان څنګه بې حجابه شـول او کليســاګانو ته يې مخه کړه. ســارا لږه شــېبه چوپه شــوه او «لاحول ولا قوة» يې وويل.

## خورېدونکی اور:

بې حجابي د آزادۍ، مساوات او ډيموکراسۍ په شعارونو سره نوره هم زياته شوه. ښځې له کورونو راوويستل شوې ترڅو په هوايي ډګرونو، رستورانتونو او الوتکو کې د ميلمه پالو (ګارســون) په توګه کار وکړي. که پلار يا مېړه به يې مخنيوی کاوه، نو د آزادۍ قانون به د هغوی حق نه ورکاوه. په حقيقت کې د ښـځې او سـړي ترمنځ ټول خنډونه له منځه يوړل شول.

ای کاش چې خبره يوازې د مخ تر ښکاره کولو پاتې شوې وای، خو خبره تر فحاشي خانو او د زنــا د حــد تر ســــاقطولو پورې ورســــېــده (کــه دواړه لوري راضــــي وي!). سارا ودرېده او ساعت ته يې وکتل: «په ۵۶مه پاڼه کې د شهوت پرستانو د تګلارو په اړه ډېــر ګــتــور مــطــالــب دي، ايــا ســــرســري يــې ولــولــو؟»

ketabton.com - The Digital Library



اریج په ټوکه وویل: «موږ تر اوسه دلته ناستي یو، ماښامنی ډوډۍ به ستا په غاړه وي! ته ډېره مېلمه پاله یې.»

مها وویل: «اریج! له کومه وخته چې دلته ناستي یو، ستا ژامه په خوړلو بوخته ده؛ پاپړ، بیسکویټ، نوشابه... خو بیچاره سارا یوازې لولي او موږ خورو.» سارا په مسکا وویل: «نوش جان مو شه، روغتیا مو شه! مهمه دا ده چې موږ د دې مفسدو خلکو په لارو چارو پوه شو ترڅو په دام کې یې ګیر نه شو.» او بیا یې د کتاب لوستلو ته دوام ورکړ.

## طریقې او شېوې:

د دې کار پیل د مخ ښکاره کول وو، خو د مسلمانو ښځو د قانع کولو لپاره یې ډول ډول لارې وکارولې؛ لکه: د لویو چادرونو او عباګانو پر ځای یوازې په ســـاده او تنګو جامو بسنه کول! له هغه وروسته یې نورې شېوې وکارولې؛ لکه: د بې حجابه ښځو ننداریې ته وړاندې کول ترڅو نورو تـه بېلګه شـــي، د رنګینو، نریو او چســـپ (تنګو) عباګـانو (چادریو) پلورل، او ښـځې یې هر ډول غونډو، کنفرانسـونو او ناسـتو ته راوبللې. هغوی ښځې وهڅولې چې بې له محرمه ختیځ او لویدیځ ته سفرونه وکړي، په ډرامو، موسیقۍ، فوټبال او تلویزیوني پروګرامونو کې برخه واخلي. په مجلو او ورځپاڼو کې یې د ښـــځو عکســـونه خپاره کړل او په راډیو او تلویزیون کې یې له نارینه وو ســـره په نازکو او کرشمه لرونکو خبرو بوختې کړې، دا ټول یې د "دوستۍ او رفاقت" په نوم ترسره کړل!

د حرکت ټکی:

هو، دا هر څه د مخ له ښکاره کولو پیل شول او بیا د حجاب تر سوځولو او تر پښو لاندې کولو پورې ورســېدل. له دې پېښــو وروســته په ځینو هېوادونو کې د مخ پټولو پر ضــد قوانین جوړ شول؛ لکه: ترکیه، تونس، ایران، افغانستان (په پخوانیو وختونو کې)، البانیا، ســومالیا او الجزایر. په دغو ځایونو کې باحجابه ښـځه مجرمه ګڼل کېده، زندان ته اچول کـېـده او نـقـدي جـریـمـه تـرې اخـیسـتـل کـېـده.

اریج وویل: «په خدای قســم! ربښــتیا وایې. د حیرانتیا خبره دا ده چې په ځینو اســلامي هېوادونو کې له حجاب سره مبارزه کیږي، خو په ځینو غیرمسلمو هېوادونو کې ښځو ته

ketabton.com - The Digital Library



د حجاب حقوق ورکړل شـــوي دي. ما په "رويټرز" خبري اژانس کې ولوســـتل چې په جاپان کې د ښځو د حقونو سـازمان غوښـتنه کړې وه چې په ميټرو قطارونو کې د ښځو لپاره ځانګړي واګونونه جوړ شــــي ترڅو له نارينه وو ســـره په ګډو واګونونو کې ونه ځورول شي، که څه هم ځينو جاپاني سړيو پر دې اعتراض کاوه.»

خداى په اماني:

په دې وخت کې د ســارا موبايل وشــرنګېد، ويې کتل: «پلار مې دى، ښــايي رارســېدلى وي.» ټيليفون يې پورته کړ: «وعليکم السلام... هو... هو... درغلم.» بيا يې خپلې جامې سمې کړې او د خپل مخ ښکالا يې پټه کړه. مها او اريج د هغې د مخې ښې (خداحافظى) لپاره راپاڅېدې.

ســارا وويل: «ان شـاء الله بيا به ژر سـره ووينو، خو ګرانو اريج او مها! په خداى په دي پوه شئ چې د بې حجابۍ او ګډو ناستو (اختلاط) بلونکي بل هيڅ هدف نه لري، يوازې دا غوارې چې تاسـو خپلې وينځې کړي؛ ترڅو هوس لرونکي سـړي چې کله زړه وغواړي تر غـاښـــونو لانـدې مو وچيچي او چې کلـه يې زړه شـــو لرې مو وغورځوي.» اريج او مها غوښــتل چې ســـارا تر موټره بدرګه کړي ترڅو خبرې يې نورې هم اوږدې شـــي، خو د هغې موبايل بيا وشــرنګېد، نو له هغوى ســره يې مخه ښـــه وکړه او لاړه. لـه هغو قدرمنو شـــخصـــيتونو څخه په مننې چې په دې کتابګوټي کې مو لـه ليکنو ګټه اخيستې؛ په ځانګړي ډول شيخ ډاکټر بکر ابوزيد، شيخ سليمان خراشي او شيخ احمد بن عبدالعزيز حمدان.

له الله عز وجل څخه مې هيله ده چې دا اثر ټولو ته ګټور وګرځوي. و صلى الله على نبينا محمد.

# پاى

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*